تابش پوهنتون

ژورنالیزم پوهنځی

راډیو تلویزیون څانګه

# ویډیو ژورنالیزم




ترتیب کوونکی : پوهنمل سیدعباس سادات

کال : 1404

# لړلیک


1 – د ویډیو ژورنالیزم تاریخچه........................................................1

2 – د ویدیو ژورنالیزم ارزښت........................................................2

3 – ویدیو ژورنالیست........................................................2

4 – د ویډیو ژورنالیست ځانګړتیاوې........................................................3

5 – ویډیو کمره........................................................3

6 – د ویدیو کمرې اجزاوې........................................................6

7 – د ویډیو کمرو ډولونه........................................................6

8 – د کمرې کارونې ابتدایي ټنې........................................................8

9 – شاټ........................................................10

10 – متحرکاټونه........................................................15

11 – د کمرې حرکتونه........................................................14

12 – د کمرې د حرکت قوانین........................................................15

13 – پروډکش........................................................16

14 – د ویډیو ثبت لپار چمتوالی........................................................17

15 – په اماتور کمرو وډیو اخیستل........................................................19

16 – لایټېنګ او د نور کنترول........................................................20

17 – د بګراونډ انتخاب........................................................22

18 –ویډیو راپور.......................................................23
19 –د یوه ښه راپور ځانګړنې........................................24
20 –فیچر........................................................................25
21 –د سوژې پیدا کولو لارې چاې......................................28
22 –د سوژه موندونکي ځانګړنې.......................................30
23 –د راپور لپاره پلان جوړول.........................................33
23 –د راپور اړین توکي..................................................34
24 –د ستند اپ لار ښوونې................................................36
25 – مرکې لپاره چمتوالی................................................37
26 –د متن لیکلو لس بنسټیزې قاعدې................................44
27 – اخلاقي معیارونه.....................................................46
28 –ژورنالستیک اخلاق..................................................47
29 –د ویډیو ژورنالستانو د نړیوالي ټولنې اخلاقي اصول.........48
30– ویډیو ایډیټ..........................................................49
31– ماخذونه................................................................59

-

# ویډیو ژورنالیزم تاریخچه

د شلمې پیړۍ په وروستۍ لسیزه کې د راډیو او ټلویزیون ودې چاپي رسنۍ یو څه اغیزمنې کړې. د چاپي رسنیو مسوولینو د نوختونو په اړه فکر وکړ چې څنګه خپل ځای بیرته ترلاسه کړي. په دې وخت کې انټرنیټ د حکومت له دایرې بهر هم کاروونکي پیدا کړي وو.

چاپي رسنیو انټرنیټ ته مخه وکړه، انټرنیټي ادرسونه یې فعال کړل، خپل ټول راټول شوي مواد به یې انټرنیټ ته پورته کول، هڅه یې کوله چې هر خبر یا راپور یې انځورونه ولري، څو د ښکلا ترڅنګ یې مخاطب ته، خبر ژوندی ښکاره شي.

د وخت په تیریدو سره د چاپي رسنیو خبریالانو دچاپیریال د غږونو ترڅنګ د سرچینو غږونه هم ثبت کړل، دغه غږونه یې د انځورونو سره یوځای په کمپیوټر کې ایډیټ کړل، انځورونو ته یې حرکت ورکړ او ترشایې غږونه ورسره خپاره کړل. دغه نوښت دملټي میډیا راپور جوړونې ته زمینه برابره کړه.

داچې چاپي رسنیو هڅه کوله چې د راډیو او ټلویزیون سره ښه رقابت وکړي، نو خپلو فوټو ژورنالستانو ته یې روزنه ورکړه چې د خبرې موضوعاتو څخه انځورنه واخلي، ویډیو یې ترلاسه کړي، غږونه یې ثبت کړي، متن ورته ولیکي او له ایډیټ وروسته یې ویبسایټ ته پورته کړي، دغه حالت ورځ تر بلې وده وکړه او دغه راپور جوړوونکي یې د (Video Journalist, a solo ، operator / backpack Journalist) په نوم هم یاد کړ.

په سنتي بڼه د یو ټلویزیوني راپور جوړیدو لپاره لږ تر لږه درې مسلکي کسانو ته اړتیا ده، آما د ویډیو ژورنالیزم په رامنځته کیدو سره دا بڼه راپور اوس یو کس جوړولای شي.

د عصر غوښتنه د بیځایه لګښتونو مخنیوی او سپما ده، نو دا وړ ژورنالستان چې ډیر کم لګښتي دي، نه یوازې د چاپي رسنیو پورې محدود پاتې شول، بلکې ټلویزیون کې یې ښه هرکلی وشو.

د یادې پیړۍ په وروستیو کې د اروپا او امریکا په ځینو رسنیو کې د ویډیو ژورنالیستانو په نوم کسانو ته روزنې ورکړل شوې او بالاخره په 1990 کلونو کې په امریکا کې د (New York 1) په نوم ټلویزیون ویډیو ژورنالیستان په دندو وګمارل چې له هغې وروسته بیا په نورو اروپایي هیوادونو کې دغې برخې وده وکړه.

بي بي سي په ۲۰۰۱ لومړي کال کې په خپلو سیمه ییزو دفترونو کې ویډیو ژورنالیستان په دندو وګمارل چې دغه ګمارنه په ۲۰۰۵ کال کې نږدې ۶۰۰ تنو ته لوړې شوې وه. دا مهال د نړۍ ګڼ شمیر مشهورې او نړیوالې رسنۍ لکه الجزیزه، امریکا غږ، نیویارک ټایمز، سي بي اس، فوکس او ... په خپلو ادارو کې ګڼ شمیر کسان د ویډیو ژورنالیستانو په نوم په دندو ګمارلي دي.

## ویډیو ژورنالیزم ارزښت

هره نوې پدیده له پیله بریالۍ نه وي خو د وخت په تیریدو او د تخنیکې امکاناتو ډیروالی یې د بریالیتوب لپاره لاره برابروي نو له همدې امله ویلای شو چې ویډو په پیل کې دومره ارزښت لرونکي اصل نه ګڼل کیده لکه څرنګه چې نن ورته ارزښت ورکول کیږي.

که چیرې یوه موضوع د ویډیو په ښه مخاطب ته بیان شي له لیکلې او غږیزې یې څو چنده تاثیرات ډیر وي، مخاطب ته دا چانس نه ورکوي چې د مطلب تر بشپړ بیان مخکې ترې مخ واړوي.

ویډیو ژونالیزم له دې امله هم مهم ګڼل کیږي چې په ډیر کم لګښت او لوړ معیار معلومات مخاطب ته وړاندې کوي، ځکه په دې بڼه کې د موضوع له انتخاب نیولې، تر خپراوي پورې ټولې چارې د یوه کس په غاړه وي. لاندې ټکي یې د ارزښت بیانوونکي دي.

ویډیو د لیدونکو پام مخامخ راجلبوي، ځکه چې مخاطب لیدل او اوریدل دواړه تجربه کوي.

ویډیو د کیسې د جریان، کرکټرونو او شخړو په ښکاره کولو کې مرسته کوي.

لیدونکي کولای شي ځان د پیښې په فضا کې تصور کړي، چې دا چاره د پیغام اغېز زیاتوي.

ویډیویي مواد په ټولنیزو رسنیو، ټلویزیون، او آنلاین پلیټفارمونو کې خپریدای شي.

د ویډیو پرمټ رنګونه، رڼا او شاټونه د پیښې او موضوع احساساتي اغېز زیاتوي.

لیدونکي کولای شي د شاټونو، مرکو او صحنو له لارې د پیښې تصدیق وکړي.

او د ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي، او کلتوري موضوعاتو په اړه زده کړه او بحث رامنځته کوي.

## ویډیو ژورنالیست

ویډیو ژورنالیست د ژورنالیزم هغه مسلکي کس ته ویل کیږي چې د یوه ویډیویي راپور لپاره په خپله ویډیو ثبت کړي، د راپور لپاره متن ولیکي، ایډیټ یې کړي او له سمون وروسته یې په یوه ژورنالیستیک چوکاټ کې مخاطب ته وړاندې کړي، ویډیو ژورنالیست بلل کیږي.

یا هغه مسلکي کس چې د یوه ویډیویي راپور ټولې چارې (له ثبت تر خپراوي) د نورو له مرستې پرته ترسره کړي او جوړ شوی راپور ویبپاڼې ته پورته کړي او یا د ټلویزیون له لارې خپور کړي، دغه شخص ویډیو ژورنالیست بلل کیږي.

یا د پنځو دندو خاوند: خبریال، د فوټو او ویډیو ډایکتر، کمره مین، د غږ انجینر او ایډیټر ته هم ویډیو ژورنالیست ویل کیږي.

## ویډیو کمره (Video Camera)

ویډیو کمره هغه تخنیکي وسیله ده چې د یوې پیښې یا موضوع متحرک تصویر د کمره کاروونکي په خوښه په خپله حافظه یا کسټ کې ثبتوي.

څرنګه چې پورته یادونه وشوه، ویډیو ژورنالیست باید د ویډیو کمرې له کارونې سره بشپړه اشنایي ولري څو یې په مرسته موضوعات او تصویرونه ثبت کړي، نو په همدې موخه اړینه ده چې ژورنالیست ویډیو کمره، د هغې برخې او نور اړین مسایل چې د تصویر د ښکلا لپاره ضروري دي وپیژني. ویډیو کمرې په بیلابیلو ډولونو سره ویشل شوي دي چې هر یوه یې د جلا ځانګړتیاوو او اسانتیاوو درلودونکې دي.

### د ویډیو کمرو ډولونه

کمرې په عمومي ډول د کارونې له مخې په درې ډولونو سره ویشل شوي دي

- شخصي کمرې(Consumer cameras)
- (Digital Single-Lens Reflex Camera) DSLR
- مسلکي کمرې (professional Cameras)

- ځانګړې کمرې (Special Cameras) دا بڼه کمرې د ځانګړو فعالیتونو پرمهال د کارېدنې وړ دي، د بیلګې په توګه :روغتیایي برخه، ساینسي څېړنې، او... نو ځکه موږ پرې دلته بحث نه کوو.

## شخصي(کورنۍ) ویډیو کمرې

دا وړ کمرې تر ډېره د شخصي محفلونو یا کورنۍ موضوعاتو د ثبت په موخه کارېږي، چې ځینې کسان یې د لاسي کمرو په نوم هم یادوي.

ددې کمرو تنظیمات او کارونه ډېره ساده ده، هر کس کولای شي چې پرته له کومې لاربښوونې په یادو کمرو ویډیو ثبت کړي. دا مهال زیرک تیلفونونه (Smart Phone) او تبلیتونه (Tablet)هم د شخصي کمرو په ډله کې شاملېږي ځکه د دې تخنیکي وسایلو کمرې د لوړ کیفیت لرونکي دي او د اړتیا وړ ویډیو پرې ثبت کیدای شي. ویډیو ژورنالیستان هم کولای شي چې په ځینو مواردو کې له یادو کمرو ګټه پورته کړي.

## (Digital Single-Lens Reflex Camera) DSLR




دا بڼه کمرې د عکس اخیستنې لپاره ډیزاین شوې وې خو د ویډیو ثبت لپاره هم ډېرې مناسبې دي. دا کمرې د مسلکي کیفیت او د شاټ کنټرول امکانات برابروي. په دې کمرو کې د لینز د بدلولو وړتیا موجوده ده، د رنګونو تنظیمات، فوکس او د لوړ کیفیت (Full HD / 4K) ویډیو د ثبت وړتیا لري.

## مسلکي کمرې (professional Cameras)



دا کمرې د ټلویزیوني کمرو په نوم هم یادیږي ځکه د حجم له مخې تر شخصي کمرو سترې دي. مسلکي کمرې په پیل کې ډیرې غټې وې او یوازې د ټلویزیون په سټډیو او یا ثابتو ځایونو کې د کارونې وړ وې، خو د تکنالوژۍ په پرمختګ سره ددې کمرو په حجم کې هم بدلون راغلی، دا مهال مسلکي کمرې په بیلابیلو ډلونو سره ویشل شوي دي چې ځینې یې ثابتې (سټډیویي) او ځینې نورې بیا د انتقال وړ کمرې دي. دا کمرې د تلویزیون، مستندونو او مسلکي پروژو لپاره کارول کیږي چې کیفیت یې (4k, HD) دی.

## د انتقال وړ کمرې (Portable Cameras)







د انتقال وړ کمرې د مسلکي کمرو له هغه ډلې څخه دي چې ژورنالیستان یې په ډیرې اسانۍ له ځان سره د خبر، راپور او نورو ویدیوګانو د ثبت په موخه ساحې ته انتقالولی شي. که چیرې ویډیو ژورنالیست وغواړي دغه کمرې د لاس، درې پښې او یوې پښې په واسطه هم کارولای شي. دا مهال د انتقال وړ کمرې د بیلابیلو شرکتونو لخوا په لسګونو بڼو جوړې شوي چې هر یوه یې د جلا ځانګړتیاوو او اسانتیاوو درلودونکي دي.

## د سټډیو کمرې (Studio Cameras)




د سټډیو کمرې د هغه کمرو څخه عبارت دي چې په ټلویزیوني سټډیوګانو کې ترې ګټه پورته کیږي، یا هغه پرمختللې کمرې دي چې په سټډیوګانو کې په ډیر لوړ کیفیت د ویډیو ثبتونې دنده مخ ته وړي.

څرنګه چې مخکې هم یادونه وشوه، د سټډیو کمرې په پیل کې ډیرې غټې وې او یوازې په یوه ثابت ځای کې د کارونې وړ وې ولې اوس د یادې ستونزې د حل لپاره نورې اسانتیاوې لکه، پاټلۍ، کرن تخنیکي وسیله او... پیدا شوې چې همدا سترې کمرې پرې په سترو سټډیوګانو کې حرکت کولای شي.

## د خبرونو د راټولولو کمرې (ENG Cameras)



د خبرونو د ثبت کمرې د لومړي ځل لپاره په 1980 کال کې رامنځ ته شوې، د دې کمرو د منځ ته راتګ یوه هدف دا وو چې د سټډیو کمرې د خبرونو، راپورونو او ازاده فضا کې په اسانۍ نه شوې کارېدلی. دغه کمرې د حجم له مخې، سپکې او انتقالیې ډیره ساده دی. د شلمې پیړۍ په ورستۍ لسیزه کې د (HDTV) په نوم کمرې بازار ته راووتې چې تر ډیره یې د خبریالانو کار نور هم اسان کړ.

## ډرون کمرې (Drown Cameras)



ډرون کمرې د یویشتمې پیړۍ ټکنالوژۍ ده چې تر ډیر د لوړ کیفیت په مرسته له فضا څخه د یوې پیښې او سیمې فلمبرداري کولای شي. دا ښه کمرې د چورلکې په څیر پرواز کوي او له لوړې ارتفاع څخه سیمه تر پوښښ لاندې راولي. دا کمرې دوه برخې لري، یوه یې ډرون او بله هغه یې د ریموټ دنده مخ ته وړي چې له کمره کاروونکي سره وي.

کمره کاروونکی په ریموټ ډول برخه کې انځور ګوري او د خپلې خوښې مطابق کمرې ته حرکت ورکوي او ان په فضا کې یې دریدلی هم شي.

## ډرون کمرې ځانګړتیاوې

د منظرو، ښارونو او لویو پیښو ثبت په مناسبه بڼه ترسره کوي.

لوړ کیفیت HD، Full HD او 4K په کیفیت د ویډیو د ثبت وړتیا لري.

د ځانګړې نقطې تعقیب او د موضوع مطابق حرکت ممکنوي.

د طبیعي پیښو، سیلابونو او اورلګیدنې شاټونه په ښه بڼه ترلاسه کولای شي؟

د چټک او اسان انتقال له امله د پېښو پراخوالی او عمومي جریان په ښه بڼه ښکاره کولای شي.

## د ویډیو کمرو اساسي برخې

د هرې ورځې په تیریدو د کمرو په ظاهري بڼه او کیفیت کې بدلون رامنځته کیږي، خو موږ یې دلته یوازې د هغو برخو یادونه کوو چې په ټولو کې یې شتون لازمی دی، که چیرې یوه کمره دغه برخې ونلري، په اصل کې نیمګړې بلل کیږي.

**1. Body (د کمرې تنه)** : د کمرې تنه یا داخلي برخه یو تخنیکي سیستم دی چې د کمرې اساسي دنده مخ ته وړي، دغه برخه کې یوه بنده خونه موجوده ده چې د انځور جوړیدو دنده مخ ته وړي ویډیو کمرې د لسګونو ډولونو او ځانګړتیاوو په درلودلو سره بیاهم ځینې ورته او اساسي برخې لري، چې په ټولو کې یې شتون لازمي دی، دلته پرې لنډه رڼا اچوو.

**2. View Finder(لیدځای-دیدگاه)**

لیدځای یا کتونکې برخه د ویډیو ثبتونې پرمهال ځانګړی ارزښت لري، که چیرې کمره کاروونکي په دې پوه نه شي چې په کمره کې یې څه ثبتیږي؟ هدف لرونکي شخص یا ځای د کمرې د توجه وړ برخه کې راغلی او کنه؟ ښکاره ده چې ترسره کړی کار به یې ګټوره پایله ونلري، کیدای شي، سم یا ناسم وي، نو اړینه ده چې د کمرې له دغې برخې ګټه پورته کړي.

**3. لنز Lens (دکمرې سترګه)**

لینز د کمرې په مخکنۍ برخه کې موقعیت لري چې د کمرې د سترګې په نوم هم یادیږي.هر هغه فعالیت چې کمره کاروونکی یې د ثبت اراده ولري، د کمرې د لینز په مرسته یې باید د کمرې حافظې ته وسپاري .که چیرې لینز خراب یا معیاري نه وي، ښکاره ده چې یا ویډیو نه ترلاسه کیږي او که ترلاسه هم شي، کیفیت به ونلري، اړینه ده چې کمره کاروونکی دهرې موضوع مطابق لینز په کارونې پوه وي.

## مایک Mic (آواز اخیستونکی)

مایکروفون یوه برقي وسیله ده چې غږیزې څپې په برقي سیګنالونو یا اشارو بدلوي. دغه برخه د غږ اخیستنې لپاره اساسي وسیله بلل کیږي. هره ویډیو کمره خپل داخلي مایک لري، چې په ښه بڼه غږ ثبتولی شي خو تر څنګ یې د اضافي مایک د نصب وړتیا هم لري، که چیرې یوه کمره په ازاده فضا کې ثبت کوي، نو اړینه ده چې له اضافي مایک څخه استفاده وکړي.

د ازادې فضا مایکونه بیلابیل ډولونه لري، هر یو یې په خپله برخه کې ارزښت لرونکي او ګټوره چاره مخ ته وړي اړینه ده چې ویډیو ژورنالیست د مایکونو په ځانګړتیاوو پوه وي، ځکه هر مایک په هره ځای کې د استعمال وړ نه دی.د لته د هغه څو مایکونو یادونه کوو چې د ویډیو ثبت پرمهال ډیر کارول کیږي.

وایرلس مایکونه، بوم مایکونه او د غاړې مایکونه

## د کمرې کارونې ابتدایي تڼۍ

1- XLR Mic inpts: په دغه برخه کې د اضافي مایکونو لاینونه وصلیږي، کمره خپل مایک هم لري، خو که چیرې اضافي یا بهرني مایک ته اړتیاوي، هغه مایکونه بیا له دې لارې کمرې سره وصلیږي.

2- Microphone Mount: په دغه برخه کې مایک نصبیږي.




3- Attachment Shoe: که چیرې له وایرلیس مایک څخه استفاده کیږي، یو مایک د مرکه کووکي او بل هغه يې په دغه برخه کې نصبیږي، یا په دې برخه کې د رڼا وسیله هم نصبیدای شي.

4- Zoom Button: د کمرې هغه برخه چې د موضوع لرې کولو او نږدې کولو دنده مخ ته وړي د زوم په نوم یادیږي، کله چې موضوع کمرې ته نږدې شي، (Zoom in) او کله چې لرې شي (Zoom Out) بلل کیږي.


5- Eye piece: کمره کاروونکی اړ دی چې د موضوع د کتنې لپاره له دې برخې او یا هم د کمرې له (LCD) څخه ګټه پورته کړي. که کمره کاروونکی موضوع دقیق ونه ګوري، هیڅکله مطلوب هدف نشي ترلاسه کولای.

6- ON/ Off Switch: دغه ټنۍ د کمرې د فعالولو او غیر فعالولو (چالان او بند) دنده مخ ته وړي.

7- Iris: د دغه ټنۍ په مرسته روښنایي کنترولیږي.

8- Gain: له نور سره د کمرې حساسیت کنترولوي.

9- Microphone Control: دغه ټنۍ د غږ اندازه کنټرولوي، یعنې د غږ لوړول او ټیټول دنده مخ ته وړي.




10- Battery: دغه برخه کې د کمرې بترې ځای پرځای کیږي څو د فعالیت پرمهال له داخلي چارج ګټه پورته کړي.

11- Diopter: دغه برخه کمره کاروونکي سره مرسته کوي چې ثبت کوونکي برخه په څه ډول ووینې.

12- Shutter speed controls : دغه تڼه د شتر د سرعت په برخه کې کار کوي، په ځینې حالاتو کې د شتر سرعت باید له عادي حالت څخه چټک شي، چې له دې تڼه ګټه پورته کولای شي.

13- Neutral Density or ND Filters : دغه برخه کمره کاروونکي ته اجازه ورکوي، چې د نور اندازه معلومه کړي، څو د سوژې عمق معلوم شي.

14- Built-in stereo Microphne : د مایک اړوند چارې مخ ته وړي

15- Focus and zoom rings : دغه تڼۍ د زوم برخه کې فعالیت کوي.

16- Automatic focus button: دغه تڼۍ کمره کاروونکي ته اجازه ورکوي چې فوکس په خپله خوښه انتخاب وکړي او که کمره یې وکړي.

## درې پایه (ترای پاد)

درې پښې یوه قوې تخنیکي وسیله ده،چې د کمرې کارونې پرمهال ترې ګټه اخیتسل کیږي. دا د کمرې د بدنې برخه نه ده خو ورسره تړلې برخه ده.




ددغه وسیلې په کارونې سره د کمرې له بیځایه حرکت څخه مخنیوی کیږي،ډیره کله د هغه مرکو یا خپرونو پرمهال یې کارونه لازمي کیږي چې ثبت د اوږد مهال لپاره وي، په دې مانا، که چیرې د نیم یا یوساعت لپاره مرکه ثبتیږي نو له درې پایې پرته معیاري او کیفیت لرونکی ثبت ناممکن دی، ځکه د انسان لاس په طبعي ډول لړزه لري.

**مونو پډ (یوه پښه)**




دا پایه د یوه فلزي یا غښتلي پلاستیکي وسیلې څخه جوړه ده چې یوازې یو عمودي میلې یا ډنډې په څیر ده، له دې پایې تر ډیره د متحرک او ثابت حالتونو پرمهال ګټه پورته کیږي په داسې حال کې چې له درې پایي یوازې د ثابت حالت پرمهال کاریږي.

## شاټ (Shots)

د ویډیو کمرې په مرسته د ژوندیو او غیر ژوندیو موجوداتو د یوې شیبې یا لحظې ثبتول د شاټ په نوم یادیږي. په ویډیو ژورنالیزم، سینما، فلم او نورو برخو کې د شاټونو کارول یو مهمه او ارزښت لرونکي چاره ده.

د شاټونو اخیستل په یو خبر، مرکه او خپرونه کې ښکلا رامنځ ته کوي، که چیرې د څو دقیقو لپاره یو شاټ وکارول شي، کتونکي ستړي کیږي او په پایله کې د خپرونې د ارزښت کمېدو لامل کیدای شي.

د یو انسان، سیمې، فعالیت د بیلابیلو حالاتو څخه ویډیو اخیستلو لپاره یو شمیر مروج شاټونه رامنځ ته شوي چې ویډیو ژورنالست ته پرې پوهیدل ډیر اړین دي.

## (Extreme Wide Shot) خورا ډېر پراخ شاټ

په خورا ډېر پراخ شاټ کې، کامره د هدف څخه ډېره لرې وي حتي دا چې هدف کېدای شي تر سترګو هم نه شي. لدې شاټ څخه د کامره کاروونکي موخه دا وي چې د هدف د چار چاپیر یوه لویه منظره ننداره کوونکي ته ښکاره کړي.



خورا ډېر پراخ شاټ ډېر ځلې د بنسټیزه شاټ په توګه کارول کیږي او د دې لپاره ډیزاین شوی تر څو ننداره کوونکي ته هغه ځای وښیي چیرته چې ټول فعالیت راپور رامنځته کیږي.

## WS (Wide Shot)پراخ شاټ

په پراخ شاټ کې هدف ټول چوکاټ وي، که چیرې هدف یو شخص وي بیا شاټ چوکات بندي کیږي ترڅو د شخص ټول بدن په شاټ کې ځای پر ځای شي.لدې چې پراخ شاټ په پراخه کچه په خبرونو کې د بنسټیز شاټ په توګه کارول کیږي نو یو شمیر کسان ورته اوږد شاټ هم وایي.

**MS (Medium Shot or Mid Shot) متوسط شاټ**

متوسط شاټ د هدف یو برخه په ډېر تفصیل سره ښیي، په داسې حال کې چې ننداره کوونکي ته د دې مجال ورکوي چې دا احساس کړي چې ټول هدف ګوري. تاسو به د بدن لاندینۍ برخه ونه ګورئ ځکه چې دتصویر دا برخه اړینه او ضروري نه بلل کیږي.

که چیرې د دغه شاټ لپاره د یو انسان تنه په پام کې ونیول شي نو د کمربند یا نامه څخه پورته برخې څخه نیولې د سر د پاسنۍ برخې څخه یو اندازه پورته فضا ته هم په کې ځای ورکول کیږي.

له دې شاټ څخه هغه مهال ګټه پورته کیږي کله چې یو ژورنالیست وغواړي هدف له نږدې څخه وګوري او یا کله چې د یو پراخ شاټ او تنګ شاټ ترمنځ بدلون ته اړتیا وي (دا کتونکي ته ستومانکونکي ده چې نیغ په نېغه له ډېر پراخ شاټ یا پراخ شاټ څخه یو کلوز اپ شاټ ته ټوپ ووهي)

**MCU متوسط کلوز اپ (Medium Close Up)**

په دې شاټ کې که د انسان تنه په پام کې ونیول شي د سینې له پورته برخې څخه د سر د پاسنۍ برخې پورې ساحه اخیستل کیږي او همدارنګه د متوسط شاټ او کلوز اپ شاټ په منځ کې په ښه توګه د بدلون په موخه کاریږي.

**کلوز اپ شاټ CU (Close UP)**

په ګلوز اپ شاټ کې یوازې د سر برخه اخیستل کیږي چې تر ډیره یې موخه کتونکو ته د ویناوال د احساساتو ښکاره کول وي. همدا شان ډېر ځلې کلوز اپ شاټ هغو لاسونو ته کارول کیږي چې څه فعالیت ترسره کوي.

**ECU (Extreme Close Up) خورا ډېر نږدې کلوز اپ**

په دې شاټ کې کامره د عادي کلوز اپ څخه هدف ته ډېره نږدې وي مګر د ورته موخو لپاره ورځنې کار اخیستل کیږي ، معمولاً د شاټ د ځواکمونو احساساتو لپاره پکار وړل کیږي لکه غم ،غصه د سترګو حرکات او نور

**CA (Cutaway) کټ اوې شاټ**

کټ اوې شاټ د اضافي یا همکار شاټ په نوم هم یادیږي،دغه شاټ تر ډیر په مرکو کې د کاریدنې وړ دی،همدارنګه د تصویر د دوو برخو او دوو بیلابیلو شاټونو ترمنځ د همغږۍ د رامنځ ته کیدو په برخه کې ډیر اغیزمن دی. کټ اوي شاټ کې موږ د یوه کس د لاس حرکتونه، کمپوټر کاروونه او نور

ځینې وختونه په یو کلیپ یا مرکه کې د یوه شخص خبرې د خپریدو لپاره مهمې وي خو ورسره تصویر له تخنیکي پلوه ستونزې ولري په دغه مهال کې غږ په خپل ځای او د تصویر پر ځای بل تصویر کاریږي څو کتونکي پرې پوه نشي او مطلب خپله مانا رسولي وي.

کټ اوې د شاټونو په منځ کې د بدلون په توګه د ایډیټنګ په بهیر کې کارول کیږي او همدا شان په ټولو مهمو شاټونو کې دا شاټ له ډېر اهمیت څخه برخه من دی.

**پورته شاټ(High shot:)**: په های شاټ کې کمره له اصلي موضوع پورته او د کمرې خوله لاندې خواته وي، یعني له پورته څخه د یوې پیښې یا موضوع تصویر اخیستل کیږي، دغه شاټ په سینما کې د یوه کس د شخصیت د ټیټوالي په موخه کارول کیږي.

**ښکته شاټ (Low shot)**: په دغه شاټ کې کمره له اصلي موضوع ټيټه يا ښکته وي او پورته خوا ځخه تصوير اخيستل کيږي. دغه شاټ د های شاټ برخلاف دی. په دې شاټ کې تر ډيره هدف داوي چې د موضوع بګروانډ په تصوير کې رانشي يا ځانګړي فوکس پرې نه وي شوی او په سينما کې يوه کس ته د شخصيت او مهموالي د ورکولو په موخه له دغه شاټ ځخه کار اخيستل کيږي.

**د اوږې د سر شاټ ( Over shoulder shot)**

په دغه شاټ کې ژورناليست او ميلمه يو بل ته مخامخ ناست يا ولاړ دي، ويډيو ژورناليست غواړي چې دواړه په شاټ کې راولي خو په داسې ښه چې د ميلمه تصوير مکمل او د ژورناليست تصوير له يو لوري ځخه ښکاره شي.

يا کمره د ژورناليست د يوې اوږې له پاسه ساحې ځخه تصوير واخلي چې په تصوير کې د دواړو موجوديت ثابت شي.

**د شاټونو اندازه**

که چيرې يو ويډيو ژورناليست له يوې سيمې يا محل ځخه شاټ ترلاسه کوي بايد د اخيستلو پر مهال لږ تر لږه نهه ثانيې ترلاسه کړي، که له دې ځخه د اخيستل شوي شاټ اندازه کمه وي کيدای شي چې هدف لرونکي پيغام په ښه ښه ترلاسه نشي.

البته د شاټ د وخت په ډيروالي کې ويډيو ژورناليست د ازاد لاس خاوند دی، ځکه کيدای شي يوه صحنه په نهه ثانيو کې بشپړه نشي،ترهغې ډير وخت ته اړتيا ولري د اخيستلو او خپرولو پرمهال يې هيڅ ستونزه نه رامنځ ته کيږي.

دغه راز ویډیو ژورنالیست باید د ایډیټ پر مهال تر درې ثانیو کوچنۍ شاټونه کاروي ځکه له دې کوچنۍ بیا کتونکي ته پیغام او مانا نشي وړ انتقالوی، هڅه دې وشي چې یوه مانا لرونکي صحنه کتونکو ته وړاندې شي.

### متحرک شاټونه

د ډیجیټل کمرو په رامنځ ته کیدو سره د کمرو په کارونه کې یو لړ اسانتیاوې رامنځ ته شوې، پخوا به کمره کاروونکي اړ وو چې که د مخامخ تصویر تر څنګ ښي او چپ لور ته تصویر هم ترلاسه کوي باید د کمرې د ترای پاد لوری بدل کړي خو اوس کمرې په خپله هرې لور ته حرکت کولای شي چې هر حرکت یې یو ځانګړي نوم لري.




**Pan (پن):** هغه شاټ دی چې کمره یې د ۱۸۰ درجې په زاویه یې حالت کې اخیستلای شي، یا د کمرې افقي حرکت ته د پن حرکت وایي چې د کمرې کاروونکي ښي او چپ لوري په کې راځي.

**Tilt ټلټ:** په ټلټ کې کمره عمودي ډول حرکت کوي یا د ښکته او پورته لورو ته د کمرې حرکت د ټلټ په نوم یادیږي. بیلګه: که چیرې یو ویډیو ژورنالیست له یوې دنګې ودانۍ څخه شاټ ترلاسه کوي چې د ودانۍ ارتفاع په کې ښودل کیږي، له پورتنې برخې څخه د کمرې د حرکت پیل او تر پایه چې د ودانۍ د دروازې برخه ده تصویر واخیستل شي د ټلټ حرکت څخه عبارت دي. د ټلټ حرکت پورته ((Tilt Up)) او ټلټ حرکت مخ ښکته ((Tilt Down)) ویل کیږی.

**زووم (Zoom)**–دا ټنې فعالیت ته د نږدې کیدو او لرې کیدو دنده مخ ته وړي، زوم په دوه ډوله دی (Zoom In) او (Zoom out). د مرکې په جریان کې باید زوم ونه کارول شي، دغه راز په خبرونو کې هم تر ډیره باید هڅه وشي چې له زوم څخه کار وانه خیستل شي البته که کله (PTC یا stand up) وي بیا زوم کول په کې مشکل نلري.


**دریمه قاعده : Rule of third**



ویډیو ژورنالیست هڅه کوي چې ترلاسه شوي تصویر یې ارزښت لرونکي او د امکان تر بریده له ستونزو ښالي وي، نو په همدې موخه ژورنالیست باید له خپل ځان څخه وپوښتي، آیا هغه څه چې دي یې په څرګند ډول ګوري او غواړي نندارہ کوونکي یې هم غواړي.

د دې پوښتنو د ځواب لپاره باید داسې تصویر ترلاسه شي چې معنالرونکي او یو روښانه پیغام بیان کړي، د دې چارې د ترسره کیدو لپاره یوه کلاسیکه قاعده موجوده ده، چې د دریمې قاعدې په نوم یادیږي. په دغه قاعده کې ویډیو ژورنالیست ساحه په درې عمومې برخو ویشي او اصلي تصویر په منځنۍ برخه کې راولي، څو د تصویر ترڅنګ د هغه چاپیرال هم تر یوه بریده په کې راغلي وي. که چیرې یو تصویر په دغه قاعده کې راوړل شي، د حرکت پر مهال هغه کس له فریم څخه نه ووځي.

## د 180 درجې قاعده (180 DEGREE RULE)




که چیرې تاسو یو سیین شاټ ثبتوی ، د دې په منځنې برخه کې یو خیالي کرښه رسم کړئ او له هغه ځخه هاخوا او دېخوا مه خوځیږي.

د بېلگې په توگه کچیرې دو کسه سره غږیږي نو تخییلي (تصوري) کرښه د دوی د بدنونو ترمنځ رسم کړئ،لکه دلاندېني تصویرپه شان.

که چیرې تاسو له دې کرښې ځخه پورې وځي، او بیا د ایډیټ مرحلې ته راشي هر شي به تاسوته ښکاره شي چې په ناسم جهت کې شتون لري. هغه کسان چې له یوبل سره خبرې کوي باید په ورته لورې (جهت) کې مخامخ شي . (لاندې ته ځیر شی)

## د کمرې د حرکت اصول

۱:د کمرې د حرکت لپاره باید یو علت موجود وي او کنه د کمرې حرکت بې مفهومه ښکاري.

۲:دتل لپاره لومړی باید موضوع حرکت وکړي او ورپسې کمره حرکت وکړي.

۳: د کمرې د حرکت ځخه مخکې ،ځو دقیقې حرکت باید تمرین شي وروسته په عکاسئ او ویډیو اخیستلو پیل وشي.

۴: دکمرېد حرکت ځخه مخکې باید لومړی منځ او اخر د حرکت تعین شي، فاصلې برابرې شي، وروسته په ویډیو اخیستلو پیل وشي ځو ساحه په برابره اندازه ویشل شوي وي.

۵: د حرکت پر مهال باید موضوع ته پاملرنه وشي او د عکاسۍ یا ویډیو اخیستني پر وخت کې لینز په ارامه حرکت وکړي.

۶: د کمرې لپاره تل تکیه ځای برابر شي او که له مخې سره ویډیو اخیستل کیږي باید کمره په ښه طریقې سره کلکه ونیول شی، څو له لړزې او نورو ستونزو په امان وي.

## پروډکشن (د ویډیو تولید)

بیل جینټل چې د ویډیو ژورنالیزم د بنسټګرانو څخه ګڼل کیږي د ویډیو اخیستلو پر مهال یې ځینې اصول وړاندیز کړي دي:

مناسب ځای انتخاب کړئ.

دواړه سترګې مو پرانیزئ

داسې فکر وکړئ چې تصویر جوړوئ

د شپږو شاټونو له فرمول ګټه پورته کړئ.

د شاټونو اندازه(Close up/ Extrem Close up) 50 سلنه وکاروئ

(Midum shot ) 25 سلنه وکاروئ

(Wide Shot / Extrem Wide Shot) 25 سلنه وکاروئ

هڅه وکړئ چې هر شاټ لږ تر لږه 20 ثانیې ثبت کړئ.

د دریمې قاعدې له فرمول ګټه پورته کړئ

له پراخه زاویې کار مه اخلئ، هڅه وکړئ بند شاټ واخلئ

څه چې اورې، شاټ ترې واخلئ، شاوخوا یې هم ثبت کړئ

له سفر یا حرکت تصویر واخلئ

په زړه پورې زاویې ثبت کړئ

د زوم او پن په کارولو کې له احتیاط کار واخلئ

هڅه وکړئ چې سرچینه ځان خپله در وپیژني (البته عادي وګړي، نه مسوولین)

هڅه وکړئ چې سرچینې بشپړې خبرې وکړي.

هڅه وکړئ چې سرچینه په حرکت راشي او عمل وکړي.

## د ویډیو ثبت لپاره چمتوالی

مخکې له دې چې د یوې خپرونې یا پروګرام په ثبت پیل وکړئ خپله کمره چک کړئ، چې آیا ثبت ته اماده ده، ټول هغه اضافي وسایل چې د ثبت پرمهال ورته اړتیا لیدل کیږي، موجود دي؟

- د تل لپاره چې په کوم ځای یا محل کې ثبت کوئ لومړی د کمرې د ځای په اړه فکر وکړئ، له کوم لوري څخه تصویر ترلاسه کوئ، چې د تصویر ټولې ځانګړتیاوې په کې رانغاړل شوي وي.
- په کوم ځای کې طبعي رڼا موجوده ده، دغه رڼا څومره مناسبه ده؟ که د اړتیا مطابق رڼا نه وي، باید له روښانه کوونکو وسایلو کار واخیستل شي .

- کوښښ وکړئ چې د ثبت پر ځای کې اضافي اوازونه نه وي، ستاسې اواز بیرته انعکاس ونکړي.
- مایک لپاره مناسب ځای انتخاب کړئ چې په ښه بڼه اواز ترلاسه کړي څو له غورځیدو او ټکانونو څخه په امان وي.
- د ثبت پرمهال کمره په منول (manual) کې برابره کړئ څو ستاسې دغوښتنې سره سم فعالیتونه ترسره کړي.
- په هغه سیمه یا ځای کې چې ویډیو ثیتیږي، د روښنایي د کنټرول لپاره د کمرې د (Iris) برخه مو فعاله وساتئ.
- د کمرې د (VCR) برخه سمه ده، کله چې ثبت پای ته ورسیږي، ژورنالیست باید ترلاسه شوې ویډیو چک کړي، که په ویډیو کې ستونزه وي، کولای شي چې له سره ثبت وکړي خو دا چاره هغه وخت کیږي چې د (VCR) برخه فعاله وي.
- د هرځای او محل لپاره باید (White Balance) وشي څو کمره د محیط د رنګونو په موجودیت کې رښتینی رنګ پیدا او مناسب تصویر ترلاسه کړي.
- د کمرې په پورته برخه کې د(finderView) کړکۍ باید موجوده وي چې ویډیو ژورنالیست په کې ثبت کوونکي تصویر وګوري.
- د تل لپاره کوښښ وکړئ کمره له (AUTO FOCUS) څخه خارج کړئ، (FOCUS) په خپله خوښه وکړئ، څو ستاسې د علاقې مطابق ویډیو ترلاسه شوي وي.

**په اماتورو کمرو ویډیو**

که چیرې د اړتیا له مخې موږ په اماتورو کمرو عکاسي کوو اړینه ده، چې لاندې ټو مهمو ټکو ته پاملرنه وکړو:

- د خپل ګرځنده کمرې یا موبایل حافظه چک کړئ غیري مسلکیتوب د یوې پیښې ویډیو کولو پر وخت کې د کمرې د حافظې ډکوالی دی وروسته د ځو ځلي ویډیو اخیستلو څخه تاسې په دې پوهیږئ، چې ستاسې د کمرې حافظه څومره وخت ویډیو اخیستلای شي په دې اساس د خپلې خوښې حافظه د کمرې لپاره برابره کړې.
- هغه عکاسي ،چې مو مخکې د خپل ګرځنده کمرې پرمټ اخیستي وي له کمرې لرې کړئ، په کوم بل ځای کې وساتئ، کیدای شي، کمره مو ورکه یا کومه ستونزه پیدا کړي.
- په اماتورو کمرو د ویډیو اخیستلو مهال کوښښ وکړئ چې کمرې ته مو بې ځایه او چټک حرکت مه ورکوئ، ځکه د ویډیو کیفیت کې ستونزه پیدا کیږي. دغه راز د امکان تر بریده له زوم کولو څخه ډډه وکړئ، که غواړئ چې یوه ویډیو له نږدې څخه واخلئ د زوم پرځای په خپله ور نږدې شئ.
- په اماتورو کمرو کې مایکرافون تر ډیره د کمرې په داخلي برخه کې نصبوي، کوښښ وکړئ چې د مرکې پر مهال مو د مایکرافون خوله بنده نشي.
- که ترای پاد درسره نه وي، کوښښ وکړئ چې د سړک غاړې له کټارو، کوچنیو دیوالونو، موټرا او یا کوم بل ځیز څخه استفاده وکړئ چې کمره مو له لړزې په امان پاتې شوي وي.

- کوښښ وکړئ چې ویډیو مود رڼا په شتون کې اخیستل شوي وي،خودرڼا شدت ته ډیره پاملرنه وکړئ، ځکه په اماتورو کمرو کې د نور کنټرول تر ډیره ممکن نه وي.

- کوښښ وکړئ چې ټوله ویډیو مویوشاټ نشي، په دې مانا ،کله مو چې دیوې برخې څخه شاټ ترلاسه کړدثبت ټنۍ بنده کړئ، دبل شاټ لپاره بیا دثبت ټنۍ کیکاږئ. ځکه دادایډیټ پرمهال تاسې سره ډیره مرسته کوي.

- ډیرې ویډیوګانې ثبت کړئ،کیدای شي یوه برخه ښه کیفیت ونلري،نوله نورو ویډیوګانو به استفاده وکړئ. په ډیروالي کې زیان نشته خو کموالی مو بیا له ستونزو سره مخ کولای شي.

- که په اماتورو کمرو ویډو کوئ،غوره ده چې د خبریالۍ جواز یا کارت ولرئ کیدای شي څوک مو مخنیوی یا له امنیتی ستونزې سره مخ شئ.

## لایټنګ او د نور کنترول

په هره ځای کې چې ثبت کیږي، د نور موجودیت اړین دي، که چیرې روښنایي تر حده ډېره او یا کمه وي په دغه حالت کې کیفیت لرونکي تصویر نه ترلاسه کیږي.

ویډیو ژورنالیست باید د دې ستونزه د حل په موخه لازمې لارې چارې ولري، تل هڅه وکړي چې د ثبت له پیله ترپایه نور په یو حالت کې پاتې شي.

تیز نور سیوري رامنځ ته کوي، غوره ده چې له نورمال نور څخه ګټه پورته شي، دغه راز په تالارونو کې ژیړې او سرې رڼاګانې هم د یوه ښه تصویر ترلاسه کولو لپاره ګټورې نه دي.

د مرکو د ترلاسه کولو پرمهال دخونې ځنډې مه انتخابوئ، ځکه هلته په کافي اندازه روښنايي نه وي، او که کوم ځای کې روښنايي ډيره وي، بيا هم ځای ته بدلون ورکړئ.

لايت بايد د کمرې شاته وي، تر څو هغه کس چې تصوير ترې اخيستل کيږي مخ يې روښانه شي که چيرې لايت د کمرې مخ ته شي بيا اصلي موضوع د روښنايي له ساحې څخه وځي.

داچې موضوع د روښنايئ اړوند ده، اړينه ده چې نور هم وپيژنو چې په څو ډولونو ويشل شوی او د کارونې پرمهال يې کوم تدابير اړين دي.

## نور دوه ډوله دی

1 - اصلي نور: هغه نور دي چې د لمر او طبيعت له رڼاګانو سرچينه اخلي، دغه نور د ويډيو د ښکلا لپاره ډير اړين دي خو که له حده ډير وې تصوير خپله رښتينولي له لاسه ورکوي.

2 - مصنوعي نور: هغه نور دي چې دتخنيکي وسايلو په مرسته رامنځ ته کيږي، دغه نور تر ډيره په ترلو او بنډو محلونو کې د کاريدنې وړ دي خو له اړتيا زيات يا کم شي، ويډيو بې کيفيته رامنځ ته کيږي.

## د ويډيو اخيستلو پرمهال د نور زاويې

که چيرې له يوه شخص په ازاده فضا کې ويډيو اخيستل کيږي،بايد د لاندې حالتونو د پيژندنې ترڅنګ ورته لازم چمتوالی ونيول شي.

**مخامخ نور:** د لمر مستقیمه رڼا چې مخامخ په ځیره لګیږي، د شخص په ځیره کې خواشیني ، خفګان، ګونځې او لکې ښکاره کوي، د شخص سترګې نیمه خلاصې ښکاري، چې له دغه حالته ترلاسه کیدونکی ویډیو رښتیولي نه څرګندوي، په کار ده چې زاویه کې بدلون راوړل شي.

**له پاسه نور:** غرمه مهال چې د لمر وړانګې له پورته خوا څخه وي د شخص په ځیره کې بیځایه سیوري رامنځ ته کوي، په داسې حالاتو کې کیفیت لرونکی ویډیو نه ترلاسه کیږي.غوره ده چې ځای ته بدلون ورکړل شي.

### په تړلې فضا کې نور

په بندو خونو او محلونو کې په کافي اندازه نور موجود نه وي، کمره کاروونکی نور ته اړتیا لري څو موضوع روښانه او مانادراه انځور ترلاسه شي، اړینه له داسې نور څخه ګټه پورته شي چې رنګونه ونلري. همدارنګه د مصنوعي نور زاویه او اندازه هم مهمه ده، که چیرې نور ډیر یا زاویه دار وکارول شي، سیوری رامنځ ته کوي چې د تصویر رښتینولی ته زیان رسوي.

## د بګراوند انتخاب

بګراوند یا شالید، په ویډیو ژورنالیزم کې ډېر مهم او ارزښت لرونکي دي، د تل لپاره بګراوند باید له اصلي موضوع سره همغږي ولري، اصلي موضوع ته ارزښت ورکړي، په اثبات یې ورسوي، که چیرې بګرواند له موضوع لري وي یا له موضوع سره هیڅ اړیکې ونلري کتونکو کې د موضوع په تړاو د بې باورۍ فضا رامنځ ته کیږي.

بګرواندونه په لاندې ډولونو سره ویشل شوي دي:

**۱–طبعي بګراونډ:** دا ډول بګروانډ په طبعي ډول شته دي او تر ډېره له ترلاسه کېدونکي موضوع سره هم یووالي لري، نو غوره ده چې له هر ډول لاسوهنې پرته په اصلي بڼه واخیستل شي، د بېلګې په توګه، چاپېریال، سیندونه، طبعي ښکلاګانې او نور...

**۲– تصویرونه:** په ځینو غونډو او پروګرامونو کې د موضوع د بګراوند لپاره تصویرونه کارول کیږي، دغه تصویرونه په سترو پردو جوړیږي او د ویناوال یا فعالیت کوونکي شاته ایښودل کیږي. د بېلګې په توګه، نمانځغونډه، کالیزه او ...

**۳–نقاشي:** په یو شمیرغونډو کې نقاشي شوي تصویرونه د بګراونډ په توګه کارول کیږي، دغه ډول بګروانډ په ډیري حالاتو کې اغیزمن وي او د اصلي موضوع په پوخوالي کې ورسره ډېره مرسته کولای شي.

**۴–پروجکټور:** په ځینو غونډو او کنفرانسونو کې د بګراونډ لپاره له پروجکټور څخه کار اخیستل کیږي او له موضوع سره تړلي بګراونډ رامنځ ته کوي، په ډېرو حالاتو کې دغه ډول بګروانډ تر نورو ډېر ژوندي بریښي، په اکثرو علمي غونډو کې د یوې موضوع د لا توضیح په موخه د پروجکټور په مرسته ګڼ تصویرونه ښودل کیږي چې د ثابت تصویر څخه یې اغیز زیات دي.

## د سوژې پیدا کولو لارې چارې

د خبریالۍ ټول پړاوونه د فکر لیږدونه ده خو پوښتنه دا ده چې سوژه چرته موندلای شو؟ سوژې هر چیرې دي، ستاسې د کور په مخ کې، په پلورنځیو کې، کار ځای کې، خبرو اترو پر مهال، موټر کې د سپرلیو د خبرو په منځ کې، تبلیغاتي پاڼو کې، تیلفوني اړیکو کې او داسې نور.

**عامه اړیکې:** خبریال ته ښایي په خپله کاري ساحه کې د دولتي مسوولینو او ولسي وګړو له بیلابیلو کتڼه ګوریو سره اړیکې ولري، څو ددغه اړیکو پرمټ له نویو او په زړه پورې موضوعاتو خبرشي چې د راپور لپاره د اررزښت وړ توکي له ځان سره ولري.

**بیلابیلو سیمو ته سفر کول :** نویو ځایونو ته سفر کول خبریال سره د نویو موضوعاتو په پیدا کولو کې مرسته کوي. هلته د خلکو کړه وړ، ټولنیز ژوند او چاپیریال کې بدلون، نوي موضوعات له ځان سره لري.

**رسنۍ څارل:** خبریال ته ښایي چې سیمه ییزې، ملي او نړیوالې رسنۍ د ورځې په اوږدو کې وڅاري، ځانګړي خبري سرویسونه یې تعقیب کړي.ډیری ستونزې او ننګونې سره ورته وي، کیدای شي یوه موضوع په بل ولایت او یا هیواد کې وي، خبریال کولای شي، همغه موضوع په خپله سیمه کې د بلې زاویې څخه راوسپړي.

**ټولنیزې رسنۍ:** د اوسني عصر یو تر ټولو چټک ادرسونه ټولنیزې رسنۍ دی، چې هره شیبه په کې تازه موضوعات پیدا کیدونکي دي. خبریال باید هغه ادرسونه تعقیب کړي چې ادرسونه یې فعال وي او په ټولنیزو موضوعاتو لیکل کوي.

**مطالعه کول:** مطالعه نه یوازې د انسان د ذهن او معلوماتي پانګې د ډیروالی سره مرسته کوي بلکې د خبریال د لید ساحه ورسره پراخیږي. دغه راز ډیری موضوعات خبریال سره د نورو موضوعاتو په زیږند کې مرسته هم کوي.

**خبرو ته غوږ نیول:** د خبریال یوه مهمه ځانګړنه لږ غږیدل او ډیر اوریدل دي. خبریال که مرکه کوي یا له خلکو سره مخ کیږي، باید له هغوی ډیر واروي، ځکه ډیری وګړي کوښښ کوي چې ورسره تازه او په زړه پورې معلومات له خبریالانو سره شریک کړي، دوی داسې انګیري که خبریال خبر

شي، نو حتمي ده چې خبر يا راپور به پرې جوړ کړ. يوه معقوله ده (که په يوه سيمه کې سل زره کسان اوسيږي، نو هر يو ، يوه موضوع لري، چې نو سل زره موضوعات کيږي)

**د علاقې وړ موضوعاتو باندې فکر وکړئ:** هر شخص په خوړو ، ورزش، لباسونو ، مسلکونو او ... کې د علاقې وړ موضوعات لري، که خبريال وغواړي چې ځينې نوي موضوعات پيدا او کار پرې وکړي د علاقې وړ موضوعاتو دې فکر وکړي، حتمي ده چې جالب اړخونه به يې پيدا کړي وي. که د خبريال د ژمي لباس کې (پټو)خوښ وي، په همدې دې فکر وکړي څو خواوې يې راپور کيداى شي. د بيلگې په توگه: د پټو کارونې ډيروالى يا کموالى، د پټو د پلور مارکيټ، د پټو د دود مخينه، د پټو اوبدلو نوې بڼې او ...

**ياداشت کتابچه ولرئ:** ويډيو بايد د تل لپاره قلم او کتابچه له ځان سره ولري، ځکه که د ورځې په اوږدو کې له دوه يا درې موضوعات سره مخ شي، نو هره ورځ په هره موضوع کار کول ستونزمن دي، ژورناليست ته ښايي چې دغه موضوعات د ياداشت په کتابچه کې وليکئ، په کومه ورځ چې نوې موضوع نه وي، دغه کتابچې ته دې مخه وکړي او موضوعات دې ترې خوښ کړي.

**اوږدمهاله پروژې و څارئ:** په خپله کاري سيمه يا هيواد کې اوږدمهاله پروژې وڅاري، کار يې څومره مخ ته تللی؟ کيفيت يې څه ډول دی؟ له کومو ننگونو سره مخ دي، خلک يې په اړه څه وايي؟ او ...

**د سوژه موندونکي ځانگړنې**

تاسې هره ورځ د ورځپاڼو، ويبپاڼو او ټولنيزو شبکو د لوستلو پرمهال له ګڼو پېښو او موضوعاتو سره مخ کېږئ، خپل ذهن وکاروئ چې کومه موضوع ستاسې د مخاطبانو لپاره راښکونکې او پام وړ ده؟

د سوژې پر بيلابيلو اړخونو پوهيدل د حقايقو د تکرار او يورنګۍ مخنيوی کوي. که چيرې تر دې مخکې پر اړونده موضوع څه ليکل شوي وي، خبريال کولای شي له هغو سره په توپير ځان ته يوه بيله لار او سبک وټاکي او له لومړنيو هغو سره په بشپړ توپير رابور جوړ کړي. هغه ځانګړنې چې د يو سوژه موندونکي لپاره اړينې دي، په لاندې ډول دي:

**۱ – خبري حس او تيز هوښ**

د خبريالانو په اړه دا مشهوره ده چې شپږم حس لري، يا هوښ يې تر نورو پياوړی دی. شپږم حس هغه څه دي چې د نورو پام نه ور اوړي خو خبريالان ډير ژر ورته ځير کيږي. تيزهوش لرونکی ژورناليست بايد:

- زيرکتيا، تيزليدنه او ژورفکر وکړي
- د ټولنې له بيلابيلو وګړو سره د همغږۍ وړتيا ولري
- ډير زغم او حوصله ولري
- د بيړني کار لپاره د فزيکي او فکري وړتيا درلودل
- د چټک فکر کولو وړتيا
- له خپل مسلک سره لوالتيا

**۲–د لید زاویه**

په کار پوه ژورنالیست باید د سوژې ټاکلو پر مهال د خپل لید لپاره ور زاویه چې له هغې نه د راپور د چمتو کولو پرمهال ګټه پورته کوي په پام کې ولري. د یوې موضوع ټولې پټې او څرګنده زاویې پیژندل کولای شي چې د سوزې غوره کوونکي ته د یوې په زړه پورې موضوع ته د رسیدو لپاره لاربښوونه وکړي چې د نورو په پرتله نالیدلې برخه ښه ووینې.

**۳–معلوماتي سواد یا پوهه**

په اوسني پیر کې د ژورنالیست لپاره معلوماتي سواد تر ټولو مهمه او بنسټیزه اړتیا ګڼل کیږي. خبریال باید پوه شي چې د معلوماتو په دې ژور سمندر کې په کومو موضوعګانو پسې وګرځي او څه ډول یې ترلاسه کړي.

د اروا پوهانو له نظره، د لږو معلوماتو لرل په انسانانو کې د خفګان او د ډیرو معلوماتو لرل د وارخطایي سبب ګرځي نو مالوماتي سواد له دې زاویې ډیر مهم دی چې نننۍ ژورنالستان د معلوماتو د مخ پر ډیرید ونک سمندر سره مخ دي.

د معلوماتو ځینې سرچینې معتبرې، کره او د باور وړ دي او ځینې نورې یې ناسمې او بې لارې کوونکې دي، نو مالوماتي سواد تاسو ته د مالوماتو نه د سمې ګټې اخیستنې، ارزونې او شننې وړتیا درکوي چې دا د یو برلاسي ژورنالیست لپاره ډیره اړینه ده.

**۴ – رسنیز سواد**

په کارېوه او سوژه غوره کوونکي ژورنالیست یوه ځانګړنه د رسنیز سواد درلودل دي. د رسنیو پر جوړښت، د خپرونو د جوړونکو پر موخو، د انځورونو پر ژبه او د هغې پر نابېره اغیزو پوهیدل د رسنیز سواد مهمې برخې دي.

د ژوندانه د پنځه ګونو اړخونو سیاسي، اقتصادي، ټولنیز، روزنیز، دیني او کوورنۍ سره اړیکې لرل نورې هغه ځانګړنې دي چې په کار بوه خبریال له نورو هغو رابیلوي.

**۵-د مقابل لوري پېژندنه او ورسره اړیکې**

د مقابل لوري د اړتیا پېژندنه په لومړیتوب کې ځای لري که د مقابل لوري اړتیا په سمه توګه وپېژندل شي د سوژې ټاکنه به اسانه شي، ځکه خبریال له هغه ټولنې نه چې ژوند په کې کوي بېل نه دی. خبریالان د خپلې ټولنې د غړو له هیلو او غوښتنوو سره تړاو لري که په یوه ټولنه کې ستونزه رامنځته کیږي باید حل لاره ورته ولټول شي. خبریال باید د ستونزو په له منځه وړلو او د ټولنې له خلکو سره ځان ژمن وښایي. مقابل لوری باید له هره پلوه وپېژنو ،له هغوی سره ټیلفوني اړیکې، شفاهي او د پیغامونو لیږد د مقابل د پېژندې لپاره لار هواروي.

**۶-انتقادي فکر**

د انتقادي فکر درلودل له تاسو سره مرسته کوي چې یوې موضوع ته له هره اړخه د نیوکې په نظر وګورۍ او ویې څیړئ ځکه چې انتقادي فکر پر پوښتنو، معلوماتو راټولولو او دلایلو واړ دی. انتقادي فکر له انتقاد سره توپیر لري، ځکه چې له انتقاد نه موخه نیوکه کول دي او انتقادي فکر د یوې موضوع د ټولو اړخونو (مثبت او منفي) څیړل او له بله سره پرتله کول دي.

## د ویډیویي راپور موضوعات

کله چې د یوه راپور لپاره موضوع ټاکل کېږي، د ښه راپور موضوع هغه وي چې لیدونکي پرې جذب شي، د هغوی احساسات راوپاروي او هغوی ته یو درس ورکړي. د موضوعاتو په انتخاب کې لاندې ټکو ته پاملرنه اړینه ده.

د خلکو د ژوند کیسې چې د خوشحالۍ، غم، لاسته راوړنې، مبارزې او ستونزو ښکارندوی وي.

د خلکو شخصي هڅې او بریاوې چې لیدونکو ځان سره بوخت کړي.

د ټولنې ستونزې، لکه بېوزلي، زده‌کړو ته نه لاسرسی، چاپېریال، روغتیا، مهاجرت، او نور

هغه موضوعات چې د یو فرد ځانګړې تجربه یا حالت ښیي، چې خلکو مخکې نه وي لیدلي.

موضوع باید یوه ستونزه یا کړکېچ ولري او وښیي چې د هغې حل څنګه موندل شوی.

موضوع باید لیدونکي په عاطفي ډول ښکېل کړي، که هغه خندا وي، ژړا وي، یا حیرانتیا.

د ښه راپور موضوع باید د خلکو ژوند ته اړونده وي، احساسات یې راویښ کړي، ستونزو ته حل وړاندې کړي او ربښتینوالی ته نږدې وي.

## د موضوع بیان

د راپور موضوع څه شی دی: موضوع د پېښو، پرمختګونو، ننګونو او بېلابېلو فعالیتونو ترتیب شوې بیان دی چې پیل، منځ او پای ولري.د راپور موضوع کتونکو ته معلومات ورکوي، احساسات یې راپاروي او د ژوندي حقیقتونه ورته ښیي.

موضوعات په بېلابېلو ډولونو ويشل شوي دي، موږ دلته د هغه څلورو ډولونو يادونه کوو چې ډېرى موضوعات په ځان کې رانغاړي.

ربښتيني موضوعات: ټول هغه کره وړ چې د انسانانو او انساني ټولنې اړوند په واقعي ډول پيښ شوي وي، ربښتيني موضوعات بلل کيږي، د بيلګې په توګه: ټولنيزې ستونزې، ګډوالي، سياسي مبارزې، بې وزلي او....

صنعتي موضوعات: په دې برخه کې د صنعت او تکنالوژۍ اړوند موضوعات شامليږي، دا ډول موضوعات په خپله برخه کې مهم او د اغيز کچه يې لوړه ده.

تفريحي موضوعات: د تفريح کلمه جامع ده، په دې برخه کې ټول هغه موضوعات شامليږي چې انسانانو ته يوه خوله خندا ورکوي او ياييې يې بوختوي.

شخصي موضوعات: په دې برخه کې اشخاص د بحث وړ دی، په ټولنه کې هره ورځ لسګونه داسې موضوعات رامنځته کيږي چې عامل يې يو کس وي. دبيلګې په توګه: په يوه برخه کې د يوه کس بريا، د ژوند ننګونې، لوبې، زده کړې او....

## د راپور لپاره پلان جوړول

د يوه راپور ثبتول يوازې د هغې د موادو راټولو پورې محدود نه دی، دا يوه منظم پروسه ده چې د پلان جوړونې، ثبت، او پايلې وړاندې کولو ټول اړخونه پوښي. دلته د راپور د پلان او توليد اصلي مرحلې په تفصيل سره وړاندې شوي دي:

### موضوع انتخاب

موضوع باید د ادارې د پالیسۍ او شته امکاناتو په پام کې نیولو سره نوې او په زړه پورې وي.

موضوع باید ریښتینې پېښې یا واقعیتونو ته نږدې وي.

موضوع باید د مخاطب د علاقې وړ او تر ډېره برید یې احساسات راوپاروي.

موضوع باید ټولنیزې ستونزې، مبارزې، بریاوې او ځانګړې تجربو ته ځانګړې شوې وي.

### معلوماتو راټولول

راپور جوړونکی باید د موضوع د کرکټرونو، ځایونو، پېښو او شخړو په اړه معلومات راټول کړي.

لومړي لاس سرچینو ته لاسرسی پیدا کړي.

د موضوع په تړاو رسمي او غیر رسمي سرچینې وغږوي.

د امکان تر بریده د باور وړ سرچینې وکاروئ.

### د ویډیو اخیستلو پلان او ثبتول

د کمرې زاویه، رڼا، او د کرکټرونو حرکتونه مخکې له مخکې پلان کړئ.

د کمرې کارونې پرمهال له مسلکي تخنیکونو ګټه پورته کړئ د بیلګې په توګه فوکس، ایرس، وایټ بیلانس او....

د اضافي تجهیزاتو لکه مایکروفون او ترای پاډ کارول د ښه کیفیت لپاره مهم دي.

د موضوع له بېلابېلو زاویو څخه شاټونه واخلئ څو د ایډیټ پرمهال د ویډیو له کمي سره مخ نه شئ.

## د راپور متن لیکل

راپور باید روښانه جوړښت ولري، د موضوع پیژندنه، کړکیچ او حل لارې ترتیب کړئ.

د راپور ژبه ساده او عامه فهمه وي، څو مخاطب ترې د پیغام په ترلاسه کولو کې ستونزه ونلري.

## ایډیټ

ثبت شوې ویډیو یا انځورونه په مسلکي ډول ایډیت کړئ.

ویډیویي برخې د موضوع ارزښت او اړتیا ته په کتو باید تسلسل او ښه ګنډون ولري.

د ایډیټ پرمهال د ویډیو رښتینولۍ ته باید زیان ونه رسیږي او له خپلسرې لاسوهنې څخه باید ډډه وشي.

د ایډیټ پرمهال د وخت پامنیوی ډیر اړین دی، د بیلګې په توګه: کلیپ، واکسپاپ او د راپور وخت څومره باید وي.

## د راپور لیکنې اصول او تخنیکونه

راپوریو تر ټولو ډیر مهم او له ننګونو سره مل ژانر دی. ویډیویي راپور لیکونکی موضوعات خپله انتخابوي، سرچینې انتخابوي، ویډیو کوي، ایډیټ کوي او نشر ته یې سپاري دا ټولې چارې د

يوې مسلکي او باتجربه شخص پرته ناشوني دي، داچې يو راپور څنګه با ارزښته جوړ شوی وي، دلته يولړ اصول او تخنيکونه شته چې پاملرنه ورته اړينه بريښي.

عاطفي اړيکه: مخاطب بايد له سرچينو سره عاطفي او احساساتي تړاو پيدا کړي.

وضاحت: پيښې واضح او ليدلوري لرونکي بيان کړئ، څو اورېدونکي ځان پکې ووينې.

رښتينولي: پيښه يا موضوع داسې بيان شي چې د مخاطب د باور وړ وګرځي.

لومړني ټکي جذاب کړئ: پيښه يا موضوع پيل بايد په زړه پورې وي څو کتونکي له ځان سره وساتي.

د کړکيچ شدت: ستونزې او ننګونې ورو ورو زياتې کړئ تر څو کتونکی تر پايه پاتې شي.

حل او پای: د راپور پای بايد واضح او قناعت بښونکی وي.

## د يوه ښه ويډيويي راپور ځانګړنې

۱–يو ښه راپور د خپلې ټاکلې سوژې اړوند پر محور راڅرخي، يانې رپورټر بايد د راپور پيل،منځ او پای ته داسې ځنځيري ربط ورکړي چې له موضوع څخه لرې نه وي.ځکه له موضوع څخه يوې او بلې خوا ته تلل مخاطب ته اطلاع ورکونه له خنډ سره مخ کوي او د راپور هدف نه ترلاسه کيږي.

۲–په يوه ښه راپور کې د موضوع اړوند اپډيټ او تازه معلومات راټول شوي وي.

۳–يو ښه راپور په داسې تشريح او انځور شوي وي چې له مخاطبانو سره شته پوښتني ځوابوي.

۴–په یو ښه راپور کې د معلوماتو کچه او د راپور د لیکنې کمیت او کیفیت په پام کې نیول شوی وي،او خلکو ته په داسې ډول وړاندې کیږي چې له لوستلو یا اوریدلو یې نه ستړي کیږي او یوه ښه نتیجه ترلاسه کوي.

۵–په یو ښه راپور کې د موضوع ښکیلو غاړو ته مساوي وخت ورکړل شوی وي.

۶–په یو ښه رپورټ کې د خبریال نظر نه وي ځای شوی.

۷–په یو ښه راپور کې د بې پریتوب اصل ته پوره پام شوی وي.

۸–یو ښه راپور له پیله تر پایه په داسې ډول لیکل شوی وي چې مخاطب له ځانه سره ساتي.

۹–د ټولنې د ادابو او دودونو پیژندل او د خلکو له سپکاوي ډډه د یوه ښه رپورټ بله مهمه ځانګړنه ده.

## د راپور اړین توکي

موږ دلته د راپور په ساختماني جوړښت او ځانګړتیاوو خبرې نه کوو بلکې د ویډیو ژورنالیست په توګه په یوه راپوه کې اړین توکي پیژندنه او مناسبه کارونه باندې بحث کوو. د یوه ویډیویي راپور لپاره لومړنۍ اصل تصویري ټوټې دي چې د یوې موضوع د بیلابیلو خواوو څخه متحرک تصویرونه ترلاسه شي، وروسره د چاپیریال غږ، کلپ، واکسپاپ او په ځینو راپورونو کې ستنډ اپ.

- **تصویري ټوټې (News shot)** د ویډیو راپور او خپرونې لپاره مهم اصل تصویري ټوټې دي. که چیرې د یوې پیښې یا موضوع د بیلابیلو خواوو په اړه تصویرونه نه وي، رامنځ ته

کیدونکي راپور بې ارزښته بلل کیږي، ځکه تصویر د یوې خبرې د اثبات او ربښتینوالي په موخه کارول کیږي او د ویډیو اساس په تصویرونو جوړ دي له تصویر پرته ویډیوي راپور مانا نلري.

- **طبعي غږونه** (Natural Sound) په راپور کې طبعي غږونه دراپور اروا تازه کوي او په مخاطب ښه لګیږي. که چیرې د یوې پیښې راپور د امبولانس په اوازونو، د ډزو په غږونو پیل شي ډیر په زړه پورې کیږي او مخاطب اړ کیږي چې ویې ویني.

- **کلیپونه** (News clips) په راپور کې د کلپونو راوړل اړین او مهم اصل دي ځکه هر راپور کې د یوې مسوولې سرچینې خبرې حتمي وي که کلپ په داسې ښه وټاکل شي چې په راپور کې د تکرار له کلمو ډډه وشي او خبرې یې ژوندیتوب ولري ډیر په زړه راپورې راځي.

- **واکسپاپ**(vox pop) واکسپاپ د خبر او راپور د ربښتینولي لپاره یوه اړینه برخه ده، ویډیو ژورنالیست باید هڅه وکړي چې د موضوع سره تړاو لرونکي واکسپاپ او تر ډیر د موضوع د چاپیریال او پیښې له ځای څخه واکساپ ترلاسه کړي.

- **سټند اپ** (Stand Up) سټند اپ په راپور کې هغه صحنې ته ویل کیږي چې په هغه کې خبریال له لیدونکو سره مخامخ دپیښې یا موضوع له ځایه خبري کوي. په ټلویزیونې راپورونو او فیچرونو کې سټداپ په څلور ډول کاریږي.

۱– **Interactive**: دغه سټندآب په راپور یا فیچر کې د موضوع په تړاو تر نورو معلومات ورکولو د مخه راوړل کیږي، یا دا چې په دغه سټنډ اپ خپل راپور پیلوو.

۲– (Bridge) :په دا ډول سټند اپ کې دوه بېلابېل موضوعات سره د سټنداپ په مرسته نښلول کېږي، یا دوه داسې موضوعات چې له یوه بله سره په یوه ډول تړاو ولري او په یوه راپور کې راوړلو ته اړتیا وي نو د برایډ سټنډ اپ په مرسته دواړه موضوعات سره یو ځای کوو.

۳–(Informative) : داسې معلومات چې په ویډیو کې یې ښودل ناشوني وي، یا دهغه موضوع تصویر یا ویډیو ونلرو، نو خبریال کولاي شي چې د انفورمیټف سټنډ اپ په مرسته هغه موضوع په راپور کې بیان کړي.

۴– (Close ): په دغه ښه سټنډ اپ کې خبریال د موضوع پر پای غږیږي، او په یوه ډول هغه موضوع راغونډول غواړي نو کلوز سټند اپ ورته وایي.

## د سټنډ اپ اخیستې پرمهال لارښوونې

کمره د ترای پاد پرمټ داسې برابره کړئ چې ستاسې سترګو ته مخامخ وي.

د سټنډ اپ پرمهال مناسب بګراوند ته پاملرنه وکړئ څو له هغه پیښې یا موضوع سره ورته والي ولري.

له کمرې سره د سترګو تماس ټینګ ساتئ، بلې خوا ته کتل جلا مانا لري

د دې لپاره چې چیغې درنه ونه وهل شي، راډیویي مایکروفون درسره واخلئ...مګر دا چې په لوی لاس غواړئ چې شورماشور ثبت کړئ

عادي او محاوره یي ژبه وکاروئ– ته وا له کوم ملګري سره غږیږئ.

کمرې ته د غږیدو لپاره متن مه لیکئ.

پریوه ښه پیل او ځینو اساسي فقرو فکر وکړئ او له ځانه سره یې وسنجوئ.

له حرکت نه د ځایونو، موضوعګانو او منظرو د نښلولو یا جلا کولو لپاره کار واخلئ، له بېځایه او بې معنا ګرځېدو څخه ډډه وکړئ.

له بېلګو نه کار واخلئ، لکه منه یا ډبره، د یوې پېچلې خبرې د ساده کولو لپاره کارېدلی شي.

د ستنډ اپ جملې تر ثبت وړاندې تکرار کړئ.

## د ستنډ اپ پر مهال ځای، جامه او انځور

د ستنډ اپ پرمهال یو مهم څیز د خبریال د ولاړې ځای دی، څومره چې وړ او د پیښې انځور ګر ځای انتخاب شي، غوره دی.

د ستنډ اپ د ثبت پرمهال د خبریال جامه ډېره اړینه ده، هڅه دې وشي چې د سیمه ییز فرهنګ دود جامه وکارول شي. کوښښ دې وشي چې ویډیو ژورنالیست ښه جامه وکاروي او د ښې سلیقې خاوند وي.

دغه راز کوښښ وکړئ چې د موضوع جزیات په تصویر کې ځای کړئ، خو دومره لانګ تصویر مه کاروئ چې د مخاطب توجو ورواړوي، او د خبریال خبرې تر شعاع لاندې راولي.

## د ستنډ اپ وخت

ستنډ اپ چې څومره لنډ وي، هومره ښه دی، ډېرې خبرې پر مخاطبانو ښې نه لګېږي خو که خبرې مو مهمې وي او پر پایلې غږیږي بیا نو کیدای شي لږ یې اوږد کړئ، خو په هر حالت کې اوږد ستنډاپ د مخاطبانو نه خوښیږي او نه به هم تاسې پکې ارامه یاست.

که غواړئ ستنډ اپ ورکړئ تر ستنډ اپ مخکې باید ستاسې په ذهن کې د خبري کیسې یوه خاکه موجوده وي، ځکه کیدای شي وروسته د راپور جوړونې په پړاو کې مو ستنډ اب بې تړاوه یا بې محتوا ثابت شي.

## مرکې لپاره چمتووالی

مرکه که په هرځای او حالت کې وي هڅه پکار ده چې ترلاسه شوي تصویر او غږ په معیارونو برابر وي، له تخنیکي پلوه د ویډیو ژورنالیست چمتووالي د مرکې او کنفرانس لپاره ډېر اړین دي.

- د مرکې لپاره تر ټولو مهم اصل د مناسب ځای ټاکل دي، دا لازمي نه ده چې تالار، دفتر او یا کوم بل ښکلی ځای وي. که له یوه کس سره د کارپرمهال یا بازار کې هم مرکه کیږي باید داسې ځای انتخاب شي چې لږ تر لږه د اضافي (خپلسرو) غږونو څخه په کې مخنیوی شوی وي.
- د مرکې د ځای تر ډاډمنیدو وروسته (مرکه په سټډیو کې ده، کور کې ده، بازار کې ده، د کارپرمهال ده او نور..) د مایکروفون انتخاب دي، چې آیا له یادې مرکې څخه د غوښتنې مطابق غږ ترلاسه کولای شي او کنه؟
- د مرکې لپاره د داسې بګراونډ انتخابول چې له موضوع سره همغږي ولري.
- د امکان تر بریده کمره له مرکه کوونکي شخص څخه لرې ځای پر ځای کړئ. (داسې چې د مرکه کوونکي تر شا لوي بګراوند ښکاره شي) خودومره لرې هم نه چې د پوښتنو لپاره ورته چیغې ووهل شي. د کمرې لپاره مناسب واټن لږ تر لږه درې متره دي خو په ښار او سړک غاړې د واکسپاپ د ترلاسه کولو لپاره دغه فاصله بیا ډېره ده.

- مرکه کېدونکی شخص باید د رڼاپه محراق کې قرارولري. د کافي رڼا د نشتوالي په صورت کې میلمه کړکۍ ته نږدې یا له خونې څخه د باندې کېنینوی، ځان ډاډه کړي چې د مېلمه پرمخ باندې په کافي اندازه رڼا شته او تصویر یې روښانه ترلاسه کېدای شي.
- که چیرې اړینه وي، مصاحبه کېدونکي شخص ته لارښوونه وکړئ چې تنګ یا چسپ لباس وانغوندي، ځکه د ناستې پرمهال یې په جامو کې یو ډول کونځې رامینځ ته کیږي.
- همدارنګه ساده سپینې جامې هم مناسبې نه دي،ډېر مهال له سپین دېوال سره مدغمیږي،که چیرې مرکه کېدونکي سپینې عېنکې( سترګۍ) په سترګو کړي وي، هڅه وشي چې د لایټ شعاع په کې منعکسه نشي او د تل لپاره کوښښ وکړۍ چې د مرکې پرمهال مېلمه تورې سترګۍ له سترګو لرې کړي، البته که څوک ړوند وي باک یې نشته.
- د تل لپاره د مرکې د ترسره کولو لپاره له ترای پاد څخه کار واخلئ، د انسان لاس په طبعي ډول لړزه لري، که چیرې کمره د څو دقیقو لپاره د لاس پواسطه وکارول شي، په تصویر کې لړزه محسوسیږي او د ترلاسه شوي تصویر رښتینولي ته زیان رسوي.
- که چیرې په مرکه کې د یوه څیز په اړه خبرې وشي او یاد څیز یا جنس په همغه ځای کې موجود وي، باید له مرکې وروسته ترې تصویر واخیستل شي څو د ایډیټ پرمهال ترې ګټه پورته شي.

### د مرکې پرمهال لاندې ټکو ته پاملرنه وکړئ

۱- کوښښ وکړئ چې مرکه په ناستې ترسره کړئ.

۲- په لومړۍ پوښتنه کې د خبرو ماشین چالان کړئ( شخص په خبرو راولئ)

۳- ډېر جنجالي مه اوسئ.

۴- با ادبه او ارام واوسئ.

۵- خپلې کېدونکې پوښتنې له قاغذ څخه مه لولئ.

٦- ځوابونه ته غوږ کیږدئ.

۷- احساسات مو کنترول کړئ.

۸- د بدن د ژبې Body Language سره مو احتیاطي چلند کوئ.

## فیچر Feature

فیچر د یوه نرم خبري ژانر په توګه پر چا، چیرې تو څه یا افرادو، ځایونو او پیښو تمرکز کوي، دلته د کله، ولې ، چیرته پوښتنو ځوابول حتمي نه دي، ځکه دغه پوښتنې په سخت خبر او خبري راپورونو کې سپړل کیږي. فیچر یوازې د پیښې پر نرمو اړخونو خبرې کوي، څیړنه، ستاینه، تنوع او نوښت د فیچر لیکنې ځانګړنې دي.

په فیچر کې ژورنالیست د پیښې له سخت خبر تیریږي او په یوه بوختوونکي فرمت کې د پیښې ژورې یا په زړه پورې او راښکونکو برخو ته ځي.

په فیچر کې د یوې پیښې د وروستیو جزیاتو د وړاندې کولو هڅه نه کیږي، بلکې موضوع ته له یوې بیلې او ژورې زاویې کتل کیږي، په فیچر کې د خبریال کوښښ پر دې وي چې مخاطبان د یادې موضوع له کومو اړخونو خبر نه دي، او څنګه کولای شي یو داسې اړخ ورکړي چې د هغوی خبري تنده خړوبه کړي. د لته د خبري تندې او دوق ګډ راتګ په دې مانا دی چې فیچر یو ګډ خبري او ادبي ژانر دی.

فیچرونه تر سختو خبرونو اوږده وي، ځکه د خبر اړوته د موضوع منځ ته نفود کوي او د جزیاتو د سپړنې پرځای پر څو مهمو ټکو تمرکز کوي. په سختو خبرونو او راپورنو کې ژورنالیست د خبر

شپږ ګونې پوښتنې د سرچپه هرم په ډول د راپور په پيل کې راوړي. خو په فيچر کې د موضوع پر نوي اړخ تمرکز کيږي او د خبري ليد پرځای يې په فيچري ليد پيلوي.

## د فيچر ډولونه

د ژورنالېزم پوهانو د فيچر د ډولونو په هکله خپل ـ خپل نظرونه وړاندې کړي، ځينې هغه ډولونه چې په اړه يې سره ورته نظر لري په دې ډول دي:

### ۱.خبري فيچر

کله کله په خبرونو کې داسې مواد راځي، چې د سنجول شوي خبر پرځای په يوه ښکلې بڼه د هغه د راڅرګندولو پرېکړه کېږي، په کوم خبر کې چې تفريحي عنصر زيات وي نو هغه خامخا د ”خبري فيچر“ لپاره غوره کېږي.

د دې مطلب دا نه دی، چې خبر د يوې ټوکې په بڼه وي، بلکې يوازې دې ته پام کېږي، چې په فيچري خبر کې سنجول يوازې د نوم لپاره هم نه وي، موضوع بالکل مينه ناکه او زړه وړونکې وي، يوازې غير سنجول شوې او غير رسمي له يوه سره خوندي کېدونکي خبرونو ته د خبري فيچرونو بڼه ورکوي، عموماً دغسې خبرونه له سره ليکل کېږي او د خوند د زياتوالي لپاره په ادبي ګاڼه ښکلي کېږي.

په خبري فیچر کې سیاسي او ټولنیز مواد هم راتلی شي، خو په دې شرط چې ژوندی، حیراونونکی او عجیب اړخ ولري.ځینې مهال کیدلای شي، چې د یوې مشهورې څېرې ژوندلیک هم د خبري فیچر په بڼه راشي.

ډېر مهم خبرونه د خبري فیچر په بڼه نه راوړل کېږي، هغو خبرونو ته د خبري فیچر جامې وراغوندې چې په هغو کې یو څه خندا، ټوکه، شوخي، رنګیني، خوند او ښکلا وي.

## ۲.تاریخي فیچر

په کتابونو کې ځینې داسې ناسپړلي اړخونه پاتې وي، چې په سپړلو سره یې تاریخي پېښې او شخصیتونه روښانه کېدلای شي.

ځینې مهال د کلیزو، غونډو، نمانځغونډو او نورو پرمهال هم د تاریخي فیچرونو ارزښت زیاتېږي. همدارازهر ښار، ژبه او ملت خپل تاریخ لري، په نوي رنګ د تاریخي حقایقو وړاندې کول ښکلا او رنګیني مومي.

## ۲.شخصیتي فیچر

کتونکي هغه مهال د یوه شخص د ژوند په اړه تفصیلات په مینه ګوري چې یا مړ شي او یا د کوم ملي او نړیوال مډال وړ وګرځي.

د رنګینو کسانو لکه د فلمي لوبغاړو، سندرغاړو، ادیبانو، ژورنالستانو، ساینس پوهانو او مشهورو خلکو ژوند لیکونه، د هغوی پیدایښت او مړینې د ورځې په اړه فیچرونه ډیر خوښوونکي لري.

د هیڅ یو مهم کس ژوند لیک د هغه له تصویر پرته نه خپرېږي د تصویر شته والی او نویوالی یې یو مهم شرط دی.

## ۴.سیاحتي فیچر

نن سبا د سیاحت یا ګرځندوی ودې ته پوره پام کېږي د رخصتیو په ورځو کې خلک غواړي ازادې هوا ته لاړ شي، کله چې د کوم نوي ځای په اړه ګرځندوی فیچر خپور شي نو ډېره شونې ده، چې نوموړي ځای ته په راتلونکي کې ورتلونکي کسان دغه فیچرونه د معلوماتو په توګه له ځان سره وساتي.

عموماً د دغو فیچرونو په منځپانګه کې د اړوندو ځایونو د جغرافیایی ځانګړنو یادونه ډېره اړینه ده.هغه ځای ته د ورتلو لپاره د موټر، رېل، سمندري بېړۍ یا الوتکې او د لارو ټول حال لیکل کېږي، د استوګنې، موسم، خوړو، د سیمې د عجیب او غریب دودونو او نورو تفصیل اړین دی.

## ۵. ساینسي فیچر

دا پېر د ساینس او پرمختګ پېر ګڼل کېږي، د ساینس په وسیله د خلکو دښمني په دوستي بدلېږي.

خبریالان د ساینس پوهانو له ټولنو څخه نوي معلومات ترلاسه کوي، چې د هغو په مرسته په زړه پورې ساینسي فیچر لیکل کېدلی شي.

نن سبا ساينسي مواد په ډېره خوښۍ خپرېږي او په مينه يې خلک ګوري، په ځرګندو ټکو کې د ساينسي فيچرونو د ليکلو غوښتنه ورځ په ورځ زياتېږي زده کوونکي او عام کسان د ساينسي معلوماتو ځانګړي فيچرونه مستند بولي.

## ۶.نور فيچرونه

ځينې ورځپاڼې د رخصتيو، فېشن، موسمونو، رنځ پوهنې، ټلويزيوني خپرونو، موسيقۍ، عامي روغتيا، سپورټ، دتجربې فلمونو، نويو کتابونو، موټر، هوا بازي او نورو موضوعاتو په اړه هم وخت ناوخت ځانګړي فيچرونه خپروي

## فيچر په څه وليکو؟

ويډيويي فيچرونه د موضوع د ارزښت او نرمو سوژو پر بنسټ غوره کيږي. د يوچا ژوند سپړنه، راښکونکي ټولنيز او د انساني راښکون مطالب، ورځني او ژور مسايل، د پيښو شاليد او دا ډول نور موضوعات د فيچر ځانګړې او سوژې جوړوي.

فيچر ډيرى پر هغو موضوعاتو جوړيږي چې بيړني نه وي، په دا ډول شننه او سپړنه کې د ورځې تازه تصويرونه، ويډيو ارشيف، غږونه او په ځينو موارد و کې موسيقي کارول کيږي.

د فيچر ليار متن د مستند فلم په سبک ليکل کيږي او د کيسې يو تر بله سره نښلوي. د فيچر توکي په دريو څيزونو مشاهدې، مرکې او شاځمکه کې راغونډيږي.

## د متن لیکلو لس بنسټیزې قاعدې

- د جارې زمان څخه په خپلو جملو کې کار واخلئ
- په هغې بڼې چې تاسو خبرې کوئ لیکل وکړئ.
- خپلې جملې د امکان تر بریده لنډې، ساده او موضوع پورې اړوندې وساتئ، او کوښښ وکړئ چې ستاسو جملې فاعل، فعل، او مفعول ولري.
- یوه جمله په یوې موضوع باندې مقیده کړئ.
- له معلومو جملو او له هغو فعلونو څخه چې عمل ښیي کار واخلئ. لکه: "یوه سپي هغه وخوړ" د خلکو ډېر د پام وړ ګرځي د دې پر ځای چې ووایو، " نوموړی د یو سپي لخوا وخوړل شو"
- د جملې په پیل کې باید سرچینه ذکر شي (د مسوولینو د وینا پر بنسټ، د پولیسو د ویناله مخې، او د هغو کسانو د وینا پر بنسټ چې د پېښې شاهدان ول..)
- په پیل کې د ځانګړي شخص په قول، د غیر مشهور او عادي کسانو د نوم یا سوال پربنسټ خپله جمله مه پیلوئ.
- په څواک سره یې پیل کړئ،که چېرې کومه جمله، او یا تصویر مهم او څواکمن وي، تاسو باید له هغه څخه استفاده وکړئ چې ستاسو دنندارہ کوونکو پام را جلب کړي.
- د صفتونو او قیدونو کارولو نه ډډه وکړئ، ځکه چې دصفتونو او قیدونو په کارولو سره لکه فاجعه آمیز،بوګنونکي، دپاملرنې وړ او داسې نورصفتونه او قیدونو په کارونې سره

تاسي خپل مخاطب ته ورښيئ چې څه ډول احساس ځانته غوره کړي حال دا چې تاسو بايد ننداره کوونکي دې ته پرېږدئ چې خپل احساسس تاسو د رپوټ په بنسټ را منځته کړي.

- په ټلويزيون کې تاسې ګوري چې څه پېښېږي نو کوښښ مه کوئ چې د تصوير صفت وکړئ، کوښښ وکړئ چې دتصوير څخه يو لږ څه دباندې وليکئ: دبېلګې په ډول، تاسو د يولاريون يوه منظره لري چې په دې لاريون کې زرګونه کسان د ولايت په طرف روان دي، دوی د يوه جناب ضد شعارونه چاپ کړي او له ځان سره يې ليږدوي، او د هغه شخص ضد شعارونه ورکوي. دلته اوس ددې مطلب ذکر ته اړتيا نشته چې لاسونو کې يې شعارونه دي، يا يي کوم الفاظ کارول هغه په ويډيو کې ليدل کيږي او غږيې هم راخيستلای شو چې خلک يې خپله واوري.

## اخلاقي معيارونه

د ژورنالېزم اخلاق يو لړ معيارونه دي چې له ژورنالېست سره د کار په مهال مرسته کوي. ځينې خلک دغه معيارونه قوانين ګڼي،ولې دغه اخلاق د ژورنالېزم قوانين نه، بلکې معيارونه دي. د ژورنالېزم معيارونه د پښتونولۍ له دودونو او رسمونو سره ورته والی لري. په پښتونولۍ کې مېلمه پالنه يو مهم اصل دی، خو که څوک مېلمه ونه پالي؛ سزا ورته نشته، خو نور خلک يې بد ګڼي او بداخلاقه ورته وايي.

همدا ډول که څوک د ژورنالېزم دغه معيارونه تر پښنو لاندې کوي، قانون ورته سزا نه ورکوي، مګر ولس په دغه ژورنالېست باندې باور نه کوي،تر څو ولس په ژورنالېست باور ونکړي، دوی

ژورنالېست ته خپلې ستونزې نه وايي او تر څو چې ولس ژورنالېست ته خپلې ستونزې ونه وايي، ژورنالېست خپل رول چې د چارواکيو او ولس تر منځ د پول حيثيت لري، تر سره کولای نشي.

د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د ژورنالېستانو ټولنو او اتحاديو ځانته، ځانته د ژورنالېزم بېلابېل اخلاق ټاکلي دي، خو په ټوليز ډول دغه اخلاق يو ډول دي، توپير يې يوازې په لومړيتوب (اوليت) کې دی. چا يو اصل ته لومړيتوب ورکړی او چا بل ته

د ژورنالېزم د اخلاقو په عملي کولو سره دولت ته چانس په لاس نه ورځي چې په ژورنالېستانو بنديزونه ولګوي.ژورنالېست بايد کوښښ وکړي چې د يوې پېښې د راپور او معلوماتو په خپرولو کې د خپلو نظرياتو له شاملولو څخه ډډه وکړي او د کومې خوا ملاتړ ونکړي.

په کوم هېواد کې چې ژورنالېستان کار کوي، بايد د هغه هېواد د قوانينو سره بلد تيا ولري. کېدای شي د قانون څخه سرغړونه د ورځپاڼې د بندېدو سبب وګرځي او ژورنالېستان په بند محکوم شي، خو ژورنالېست د دې حق لري چې د ټولنې مخور، که له ټاکل شويو معيارونو څخه سرغړونه وکړي او ټيټ وخېژي، رسوا او خړ کړي.

ژورنالېست بايد خلک په اعتماد کې واخلي، تر څو په ده او ليکنه يې خلک باور او اعتماد وکړي، ځکه کله چې کوم ژورنالېست د چارواکيو د احتساب په هکله راپور ليکي، بايد د خپل ځان محتسب هم واوسېږي، ځکه هيڅکله هم بل ته څوک ګوته نيولی نشي چې خپله د هغه عمل مرتکب وي.

## ژورنالستیک اخلاق

- د ټولو خواوو پر وړاندې باید ورته چلند وکړي او بېطرفه وي،خپل احساسات په راپور کې ګډ نه کړي او د خبر په لیکنه کې له تعصب نه کار وانخلي ،ژورنالېست باید د کومې ډلې پلوي ونکړي،که یو ژورنالېست له یوې ډلې سر ه اخلاص ولري او هغه ډله یو ناسم کار وکړي، د هغه راپور ورنکړي او بله ډله چې ورسره اخلاص نه لري هغه یو کوچنی ناسم کار وکړي د هغه راپور ورکړي، انصاف نه دی.
- دروا غ ونه وايي او چې څه لیکي هغه رښتیا ولیکي، ځکه په ژورنالېزم کې درواغ یوه ستره ګناه ده
- ژورنالېست باید د چا سپکاوی ونه کړي او په چا پسې تهمت ونه تړي.
- ژورنالېست مخکې له دې چې یو راپور خپور کړي، د هغه د صحت او دقت لپاره باید پوره څېړنه او تحقیق وکړي.
- ژورنالېست باید له یوې وړې موضوع نه لویه موضوع جوړه نکړي، د بېلګې په ډول که په یوه لاریون (مظاهره) کې یو تن سرسري ټپي شوی وي او وویل شي چې مظاهره له تاوتریخوالي ډکه وه،انصاف نه دی.
- ژورنالېست باید انګازې (افواه ګانې) او د چوک د سر اوازې خپرې نکړي، که درواغ شي د ژورنالېست او خپرونې حیثیت ته زیان رسېږي.
- که چېرې یو ژورنالېست په یوه راپور کې تېروتنه وکړي،باید خپله تېروتنه اصلاح کړي او بښنه وغواړي.
- په یوه راپور کې باید مقابل لوري ته وخت ورکړل شي چې د خپلې سپېڅلتیا او صفایۍ په هکله نظر ورکړي.

- ✓ ژورنالیست حق نلري چې په راپور کې د یو قوم، ډلې صفت او ستاینه وکړي، که چیرې اړتیا وي دغه الفاظ دې د خلکو له خولي په مستقیم ډول را واخیستل شي.
- ✓ په راپور کې باید د چا د شخصیت په هکله څه ونه ویل شي، څوک باید د نفرت، خندا او توهین هدف ونه گرځي، د چا مقام او کسب ته زیان ونه رسېږي.
- ✓ ژورنالیست باید په راپور کې خپله شخصي گټه په نظر کې ونه نیسي.
- ✓ ژورنالېست باید په راپور کې د خپلو دوستانو نقل قولونه را وانخلي.
- ✓ ژورنالېست حق نه لري چې د چا د گناه او بېگناهۍ په هکله نظر ورکړي.
- ✓ ژورنالېست باید له رشوت اخیستلو څخه ډډه وکړي، د معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره دې چاته رشوت نه ورکوي او نه دې له چا نه اخلي، آن تر دې چې له چا نه دې مرسته هم وانخلي چې په راپور یې تاثیر کوي.
- ✓ ژورنالېست باید په صادقانه ډول معلومات لاسته راوړي، نه دا چې له خلکو څخه د مالوماتو په اخیستلو کې له چل او حیلې نه کار واخلي. خیر که لږ له چل نه کار واخلي، کوم باک نه کوي، هغه په دې شرط چې ربنتیني او ولس یې غوښتونکی وي.
- ✓ ژورنالېست باید له خپل موقف نه ناوړه استفاده او گټه وانخلي.
- ✓ ژورنالېست باید Off the Record مالومات خپاره نکړي.

که سرچینه ونه غواړي چې نوم یې خپور شي، باید خپور او افشاء نشي

## د ویډیو ژورنالیستانو د نړیوالې ټولنې اخلاقي اصول

د ویډیوژورنالیستانو نړیوالې ټولنې د ژورنالستانو د کارونو ښه والي لپاره یو شمیر اخلاقي معیارونه په نښه کړي څو په عملي کیدو سره یې د ویډیوژورنالیستانو په کاري ساحه کې ورسره مرسته وکړي.

۱–ویډیوژورنالیست باید د موضوعاتو په اخیستلو کې له خپلسرې لاسوهنې ډډه وکړي ،هغه څه ترلاسه کړي چې له موضوع سره تړاو لري ځکه ویدیو د خلکو لپاره اخیستل کیږي او په اړه یې قضاوت د خلکو کار دی، ژورنالیست حق نلري چې ویډیو له خپراوې مخکې په ښه او بد وویشي او یا یې ډلبندي کړي.

۲ – ویډیوژورنالیست باید د تصویر اخیستلو پرمهال چاته د مشورې ورکولو حق ورنکړي،دکار پرمهال پرځان متکي او ډاډمن ووسي.

۳–دپیښو پرمهال له ویرې او ډار پرته، رښتیني او بې پرې تصویرونه ترلاسه کړي، په جګړه ییزو حالاتو کې له یوې ډلې سره ځان تړل ستونزې راولاړوي، ویډیوژورنالیست باید د ښکیلو غاړو تصویرونه په خپلواک ډول ترلاسه کړي.

۴–دتصویر اخیستلو پرمهال خپله اصلي دنده پیژندل او مسلک ته احترام لازمي کار دی،له تعصب،کینې، قومپرستۍ او نورو یو اړخیزو مسایلو څخه باید ډډه وشي

۵ – له ټولو خلکو سره انساني چلند ،د پیښو له قربانیانو سره له مهربانۍ کار اخیستل او خپل کار ته ارزښت ورکول اړین دي،کیدای شي له ویډیوژورنالیست سره د کار پرمهال د کوم کس یا ډلې لخوا بد چلند وشي،ویډیوژورنالیست باید خپلې دندې ته وفادار پاتې شي نه شخصي ستونزې ته.

۶– له هغو کسانو څخه چې تصویر اخیستل کیږي، لارښوونه ورته اړینه نه ده، د ویډیوژورنالیست دنده د واقیعتونو ښکاره کول دي،ښه تصویر هغه دی چې د یو حالت ترجماني وکړي.

۷ – که چیرې په یو تصویرد سمونې (ایډیټ) پروسه عملي کیږي،باید دتصویراصلیت ته په کې زیان ونه رسیږي او په داسې بڼه خپور شي چې کتونکي ترې بل ډول تعبیر ونکړي.

۸ – دتصویر اخیستلو په بدل کې مقابل لوري ته پیسې ورکول د اخلاقي اصولو خلاف کار دی.

۹ – که یو کس له ویډیوژورنالیست سره د تصویر اخیستلو په برخه کې مرسته هم کړي وي،له وړاندیز منلو یې باید ډډه وشي،هڅه وکړئ خپل اهداف ترلاسه کړئ.

۱۰–دتل لپاره خپل کار با انصافه ترسرهکړئ، دچا دتوهین، سپکاوي او نورو دبدنامې لپاره له خپل مسلک ناوړه ګټه مه پورته کوئ.

۱۱ –ژورنالیست ته پکار ده چې د هرناوړه او منفي کار ویډیو ژر تر ژره ترلاسه او خپره کړي،څوپې د مخنیوي لپاره اقدام او یا حل لارې پیدا شي خو هڅه وشي چې د ویډیو اخیستلو پر مهال د چا شخصي حریم ته سپکاوي رامنځ ته نشي.

د ویډیو اخیستونکو یو شمیر ټولنو لخوا دغه لښتلیک برابر شوی چې د ویډیو اخیستلو مناسب او نا مناسب ځایونه په کې روښانه شوي.

**ژورنالیست څه وخت او کله ویډیو اخیستلای شي**

| ځای | د تل لپاره | د اعتراض پرمهال د شخص اجازې اخیستل | له ادارې د اجازې اخیستل |
|---|---|---|---|
| **عمومي ځایونه** | | | |
| پلې لارې | √ | | |
| د سیند غاړې (ساحلونه) | √ | √ | |
| پارک، | √ | | |
| د اورګاډي سټیشن | √ | | |
| د موټرو تمځای | √ | | |
| ژوبڼ | √ | | |
| د زده کړو مرکزونه | | | |
| د پوهنتون ودانۍ | √ | | |
| ټولګي | | | √ |
| د تدریس او عملي کار پرمهال | | | √ |
| هغه ځایونه چې له وړاندې محدویتونه ولري | | | |
| د پولیسو ماموریت | | | √ |
| دولتي ساختمانونه | | | √ |
| محاکم | | | √ |
| زندان | | | √ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| نظامي مرکزونه | | | √ |
| ملي شورا | | | √ |
| روغتیایي مرکزونه | | | |
| کلینک | | | √ |
| بستر ځایونه | | | √ |
| عاجلې خونې | | | √ |
| د امبولانس داخل | | | √ |
| پرانیستي او عمومي ځایونه | | | |
| سینما | | √ | |
| د کار دفتر | | √ | |
| هوټل او رستورانت | | √ | |
| د پیر او پلور مرکزونه | | √ | √ |
| د خصوصي ځایونه | | | |
| د اوسیدو کوټه | | √ | |
| کور | | √ | |
| هوټل کې د اوسیدو خونه | | | |
| موټر | | √ | |

## ویډیو ایډیټ

د ویډیو ایډیټ لپاره مختلف سافټویرونه موجود دي،مشهور سافټویرونه د ایپل کمپیوټرو لپاره Final Cut او د کمپیوټرونو پر مخ د عامل ویندوز لکه Windows live movie د ویندو پر مخ نصب شوې، تر ټو پروګرامونه لکه Edits Video Editor او Adobe Premiere او Video studio دي.

د کار کولو طریقې پدې سافټویرونو کې یو شان دي.

مګر د کار د سهولت لپاره پدغه سافتویر WINDOWS LIVE MOVIE کې کار کوو.

اول د ویډیو ګانو د انتقال څخه وروسته د کمرې څخه کمپیوټر ته دغه طریقې د پروګرام VEDIO FILES BROWSE په سافتویر کې پیدا کړئ وروسته د فایل د انتخاب څخه خپل نظر په سافتویر کې OPEN خلاص کړی.

پدغه ترتیب کولی شئ په ویستلو Drag and Drop ویدیو ګانې په time line پایه ردیف پر جوړولو په هرځاي کې ،چې کولای شئ خپل ویدیو ګانې جوړ کړئ.

دوهم:.په ترتیب سره ،چې غواړئ یوه برخه د ویډیو ګانو شاته کېږدئ که غواړئ یوه د ویډیو له ځانه واخلئ دهغې برخې پرمخ((کلیک)) پروګرام(Edit) وکړئ.

Split-انتخاب کړئ پدغه ترتیب هغه ویډیو ،چې تاسې (کلیک) کړئ او په دوه نیم تقسیم کېږي که غواړئ، چې یوه برخه د ویډیو انتخاب کړئ د پروګرام Edit او پروګرام Trim انتخاب کړئ پدغه ترتیب کولی شئ د کلیپ ابتدا او انتها برخه د ویډیو ،چې ورته ضرورت لرئ انتخاب کړئ د خپل زړه برخه Save کړئ.

دریم: ـ معمولاً کولای شئ مختلف (کلیپونه) شاته کړئ که چیرې وغواړئ کولای شئ د ګرافیکې رابطو څخه Transition استفاده وکړئ، د دغې کار لپاره په ابتدا یا انتها د خپل نظر (کلیپ) کلیک کړئ او پروګرام Animation انتخاب کړئ متوجه اوسئ په ګرافیکې رابطو کې افراط او زیادت ونکړئ.

څلورم: ـ کولای شئ خپل ویډیو ته متن زیات کړئ د دغې کار لپاره پروګرامونه موجود دي.

Title: ددې پروګرام په انتخاب کولای شو خپل ویډیوې پیل په عنوان د سر یا اغاز ویډیو استفاده وکړئ.

Caption: د دې پروګرام پواسطه کولای شو فوټ نوټ اضافه کړو.

Creadits: ددې پروګرام په واسطه کولای شو د ویډیو یو متن جوړ کړو، همدارنګه ددې پروګرام په انتخاب کې د فوټ نوټ انتخاب او اندازه هم لرو.

پنځم: ـ د خپل کار د محصول د ذخیره او اماده کیدلو لپاره د خپرولو لپاره ددې پروګرام پر مخ Save movieکلیک کوو فارمټ چې ددې لپاره (Save) کول او خروجي فائل انتخاب کوو.

که غواړئ، چې چټک فائل د انټرنیټ له لارې ولیکې د mp4 فارمت یعني شکل د لیکلو لپاره انتخاب کړئ که غواړئ، چې تلویزوني خپرونې Save کړئ، نو سرعت د انځور په لیکو کې اهمیت نلري بهترین فارمټ (Imov) دي.

متوجه اوسئ د انځوراندازې ته تغیر مه ورکوئ او د ضرورت په وخت کې د صحیح کمولو لپاره د پیشنهاد شوي سافټویر څخه استفاده وکړئ.

((متداول)) اندازه انځورونه عبارت دي له:

1080،1920 د پر کیفیته فلمونو لپاره HD.

720،1280 د پر کیفیته فلمونو لپاره HD.

576،720 د پر کیفیته فلمونو لپاره HD.

لوی تري اندازه د انځورونو د تلویزون لپاره او هم د انټرنیټ د خپرونې دادي.

480،720 د پر کیفیته فلمونو لپاره DVD.

480،640 د پر کیفیته فلمونو لپاره VCD.

دغه اندازه انځور د خپرولو د انترنیټ لپاره د متداول دي)).

دغه ټکي له ځان سره وساتئ، چې د وړوکي انځور په غټولو کې د انځور کیفیت کمیږي.

فلمونه څرنګه ولیږو :

که چیرې د انځورونو د متریک (سایټ) یا اندازه په رقم د YouTube یا V Movie څخه استفاده کوئ.

دغه لاندې نقطې په نظر کې ولرئ:

اول: ـ توجه وکړئ د غه مطلب ته، چې د لیږدونکي فایل حجم ،چې مخکې درس کې ذکر شوي دلیدو وړ ویډیو ولیږئ.

دوهم: ـ د فکرکولو برخلاف د فلم لیږل یوه کوچنۍ برخه د کار ده.

په صحیح توګه نومول او تشریح ورکول د هغه شي ،چې انځور مو اخیستی دی د فلم لیږلو څخه مهم دی.

الف: ـ نوم ایښودل ((تیږ یا Title)) د ویډیو لپاره په خاص ډول، چې د واقعې څخه خبرول لکه چیرته مظاهره وي په دواړه ژبو فارسې او انګلیسې اجرا کیږي.

ښه خبره ده ،چې انتخابې ژبه جاذبه او ساده وي.

تشریح یې لنډه وي، واقعي د مملکت نوم ، ولایت نوم او محل د حادثې د کامې شاته ذکر کړي او وروسته په انګلیسې ولیکئ .

ب: ـ د توضیحاتو په برخه کې (Description) مکمل معلومات واقعې ولیکئ د واقعې ټیم او تاریخې د خپل بیان په هکله ولیکئ، هر هغه شي ،چې په ویډیو کې نه وي هغه انتقال کړئ په لیکلو کې کوشش وکړئ.

که چیرې مو مظاهره په فلم کې ثبت کړي وي، او په دلایلو مو په وخت د ثبت کې پوره معلومات نه وي ورکړی.

هغه په ویډیو کې ثبت کړئ او دغه نقطې ته به متوجه اوسئ چې د پوره او مکمل خبرونو ، معلوماتو او ویډیو انځورونو فلم پوري میلونونه خلک په انتظار وي ،چې زمونږ خبریالان به معلومات را کړي.

تر څو ،چې وکولای شو خپل معلومات په انګلیسې ژبه ولیکو .

ج: ـTag انتخاب ستاسې د ویډیو په لیدلو کې ډیر کومک کوي هغه کلیدي کلمات په واضع او تیز ډول د ټب په عنوان انتخاب کړئ په دواړو ژبو فارسې او انګلیسې انتخاب کړئ او که کوم نوم په دوه ځل لیکل کیږي هغه په دواړو صورتونو کې تک کړئ مثلاً تظاهرات هرات په یوه میدان کې داسې انتخاب کړي.

هرات، په یوه میدان کې مظاهره په دریم د حوت.

د : ـ ترهغه ځایه امکان لري کوشش وکړئ، چې ویډیو ګانې د مشترکو سایتونو ویډیو کې اپلوډ یا اوچت کړئ.

او بعد له دی لینک په اجتماعي شبکو لکه: فیسبوک کې شریک کړئ فوقلاده ویډیوئي (پورتال) د اجتماعي شبکې د فیسبوک څخه استفاده مه کوئ.

د امکان په صورت کې د انځورونو لېږول په فیسبوک کې سخت دي.

که وغواړئ خپله ویډیو مستقیماً د تلویزون د خپرولو لپاره یا استفاده په ویب سایټ کې ولیکئ.

دغه ټکي په یاد ولرې:

اول: ـ همدارنګه کولای شئ په ((مطلوب شوي کیفیت)) پر مخ د You tube او ((اپلود یې کړئ مګر پروګرام یې ((any one with))(unlisted)((The link can view)) د پروګرامونو له منځه په شریکو ویډیو ګانو انتخاب کړئ پدغه صورت کې وروسته د تمامو مراحلو لري کولای شئ د ویډیو لینک یو چاته ،چې اخیستونکي وي ولیکئ بغیر له دې څخه ،چې ستاسې ویډیو په بروزرو کې پیدا کېږي.

دوهم: ـ استفاده د (FTP) د فایل د لیکلو لپاره تو صیه کېږي په ډیرو مواردو کې لیږل د فایل په (FTP) دغه مزه لري، چې انټرنیټي ارتباط په قطع کیدو کې به عین ارسال امکان ((Resume)) او لیږل د عملیاتو وروسته د وصلیدو نوی انټرنیټ وجود لري.

((یعنی په قطعه او رابطه کی تماس نیول لازم ندي))فایل د بیا لپاره ولیکئ.

دريم:-استفاده د اشتراک کوونکو سايټونو دفايل لکه: 4shared يا You SendIt دغه هم يو د خصوصي ويډيو ليږل دي ،مګر لمړيتوب نلري او تر هغه ځاي پوري، چی وړيا ويبسايټونو کې په عامه توګه لږ دي .

امکان لري، چې فايل ليږل د ستونزې سره مخامخ شي ،لياقت په اسانه ډول په تجربه کې پيدا کيږي .

د ليږلو راليږلو مختلفي لارې ويډيوګاني تجربه کړئ او د نورو ملګرو سره يې شريکې کړئ.

## ماخذونه


۱-پلويلر، ژباړه فواد نجف زاده فيلمبرداری عملی،۱۳۹۰،تهران دانشګاها ( سمت)

۲-فريدون، بهنيار، تلويزيون ديجيتال، ۱۳۹۰،تهران،موسسه علمی و فرهنگی (نص)

۳- جرالدميلرسون، ترجمه( غلامرضا طباطبايی) توليد و کارګردانی در تلويزيون، ۱۳۸۱،تهران،دانشګاها سمت

۴-نذير احمد سهار، تلويزيونی خبريالی،۱۳۹۲،کابل،اسد دانش خپرندويه ټولنه

۵-رياض. ثاقب، ژباړن: نذير احمد سهار،۱۳۸۵، نوې خبريالي: ميوند خپرندويه ټولنه، کابل

6 - (PDF) THE USE OF VIDEO JOURNALISM AND OTHER TYPES OF COPYRIGHTED VIDEO IN TEACHING JOURNALISM (researchgate.net)

7 - BackpackEssentialManual_LR.pdf

8- www.videojournalism.com